دا لاربنود کتاب د Root of Peace په واسطه د USAID د ختیزې سیمې متبادل پرمختګ پروګرام (ADP/E) د No. GS-10F-0359M, Task Order #306-M-00-05-00515-00 ، نمبر فرعي قرارداد لاندې لیکل شوی دی. دا لاربنود کتاب د Roots of Peace د Ferenc Sandor په واسطه او د (DAI) د Juan Estrada په همکارۍ د Roots of Peace او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د ترویج کارکوونکو، بزګرانو او د کرنې د خامو موادو د رسوونکو او نورو ښوونکو د استعمال لپاره ولیکل شو. نوموړې کار ته بودیجه د USAID په واسطه، د ختیځ زون د متبادل پرمختګ پروګرام د نظارت لاندې چې د DAI په واسطه اداره کېږي، ورکړل شوې ده. د زیاتو معلوماتو لپاره په 14154558008+ شمېرې ته زنګ ووهئ او یا له Roots of Peace سره په info@rootsofpeace.org برېښنا لیک سره تماس ونیسئ.

Roots of Peace یوه بشردوسته خیریه اداره ده چې د امریکا د متحده ایالاتو په کلفورنیا کې یې بنسټ ایښودل شوی دی. Roots of Peace په ۱۹۹۷ کال کې تاسیس شوې ده او په جنګ ځپلو هیوادونو کې زیات فعالیت کوي تر څو د جګړو بقایاوې له منځه یوسي او همدارنګه د بیا میشته کولو او اقتصادي معیشت او د تولنیزو پروګرامونو د پرمختګ سبب وګرځي. Roots of Peace د عامه او شخصي سرچینو په واسطه تمویلېږي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ


۱.مېوه جات پوهنه، نوع او کلټیوار (Pomology,Vareity and Cultivar) ........................... ٤

۲. د ساحې برابرول(site prepration) ........................................... ٥

۱,۲ د ساحې پاکول: ........................................... ۱۲

۲,۲ د سړوکونو او پیاده رو جوړول: ........................................... ۱۲

۳,۲ د خاورې برابرول: ........................................... ۱۳

دانه دانه ساختمان لرونکې خاوره ........................................... ۱۳

د هموار ساختمان لرونکي خاوره (Platy structured soil) ........................................... ۱۵

بلاک شکله، منشور شکله او استوانه شکله خاورې ( Blocky, prismatic and columnar structured soils) ........................................... ۱۵

۴,۲ بنډینګ او تخلیوي شبکه (Bunding and drainage network) ........................................... ۱٦

۵,۲ د خړوبولو د سیستم قایمول: ........................................... ۱۷

۶,۲ شپول یا احاطه جوړول (Fencing) ........................................... ۱۸

طبعي څېري کمربندونه (Natural shelter belts) ........................................... ۱۸

د ونو قطارونه او تراړه (Tree lines and strips) ........................................... ۱۸

حیاتي شپول (Live fence) ........................................... ۱۹

۳. د باغ نقشه کول (Orchard layout) ........................................... ۱۹

۱,۳ اساسي اندازې (Basic measurement) ........................................... ۱۹

۲,۳ طبعي نقشه (physical layout) ........................................... ۲۳

۴. د میوه جاتو د ونو کرل ........................................... ۲٦

۱,۴ د کرلو لپاره د کوتي (hole) برابرول ........................................... ۲٦

۲,۴ نیالګي نیالول ........................................... ۲۷

۳,۴ د کرلو په پروسه کې د القاح اداره کول ........................................... ۳۰

۵. د باغ اداره کول ( Orchard management) ........................................... ۳۲

۱,۵ د شاخبري کولو عملیه (The pruning process) ........................................... ۳۲

۲,۵ معمول کنوپي شکلونه (Traditional canopy shapes) ........................................... ۳٦

طبعي کنوپي ((Natural canopy ........................................... ۳٦

مرکزي رهبري سیستم(Central leader system) ........................................... ۳۷

تغیر موندلی یاجذري مرکزي رهبري سیستم ( Modified or Radical Central LeaderSystem) ........................................... ۳۸

متحد مرکزي رهبري سیستم (Combined Central leader System) ........................................... ۳۸

خلاص مرکزي یا د ګلدان شکله سیستم (Open Center or Vase System) ........................................... ۳۹

د میوو د یو ځای کیدلو سیستم (Fruit Bush System) ........................................... ٤۰

۳,۵ ګڼ کنوپي شکلونه (Intensive canopy shapes) ........................................... ٤۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



Productive Arbor Branch System .................................................... ۴۱
د نرۍ میلې ښانګې سیستم (Slim Arbor Branch System) .................................... ۴۱
۴,۵ د کېږ سیستم (Hedge System) .................................................... ۴۲
د هنګري سیستم (Hungarian Hedge System) .................................................... ۴۲
هاګ یا بیلجین سیستم (Haag or Belgian Hedge System) .................................... ۴۳
بالمیتا کېږ سیستم (Palmetta Hedge System) .................................................... ۴۳
بوچې-توماس کېږ سیستم (Bouche-Thomas Hedge System) .................................... ۴۳
د (V) شکله سیستم (V) Shaped Hedge System .................................................... ۴۴
لیپاژ کېږ سیستم (Lepage Hedge System) .................................................... ۴۴
چمن باغ (Meadow Orchard) .................................................... ۴۴
۵,۵ د مېوه لرونکو ونو شاخبري کول .................................................... ۴۵
د ونو د ځوکو او میوه لرونکو نودوشاخبري کول .................................................... ۴۶
د شاخبري کولو معاوضوي میتود (Alternate pruning method) .................................... ۴۶
د تریډ شوټ د شاخبرۍ مېتود (Thread shoot pruning) .................................... ۴۶
تر یوې نودې پورې شاخبري کول ( Pruning to one shoot) .................................... ۴۷
د مېوه دارو ونو د بار سپکول (Thinning fruits) .................................... ۴۸
۶,۵ د ونې تغذیه .................................................... ۴۸
د اساسي غذايي موادو رول .................................................... ۴۹
مېوه دارو ونو ته سره اچول (Fertilizing fruit tree) .................................... ۵۱
۷,۵ د مېوه دارو ونو خړوبول .................................................... ۵۵
۸,۵ د حشراتو او ناروغیو اداره کول (Pest and disease management) .................................... ۵۹
ناروغتیاوې .................................................... ۵۹
حشرات (Pests) .................................................... ۶۰
د pests او ناروغیو کنترول .................................................... ۶۱
۹,۵ د میوو راټولول (Harvesting fruit) .................................................... ۶۳
۶. د باغ د تاسیس خلاصه جدول (Summary table of orchard establishment) .................. ۶۵
۷. لمړۍ ضمیمه_د اصطلاحاتو قاموس(glossary) .................................................... ۶۶
۸. دوهمه ضمیمه – جدولونه .................................................... ۶۸
۹. دریمه ضمیمه – شکلونه .................................................... ۶۹
۱۰. ماخذونه .................................................... ۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱.مېوه جات پوهنه، نوع او کلټیوار ( Pomology,Vareity and Cultivar)

میوه جات زمونږ په ژوندانه کې مهم رول لري. دوی نه یوازې زمونږ خواړه او غذایې محافظوي حالت اصلاح کوي بلکې د صنعت،پروسي او خرځلاو سره تړاو لري. د میوه جاتو لوړ ارزښت دهقان ته موقع په لاس ورکوي چې مارکیټونو ته د صادرولو او محلې ځایونو ته د لار پیداکولو له لیارې عایدات لاس ته راوړي.

د نبات پیژندنې (botany) هغه څانګه چې د میوه جاتو کرنه مطالعه کوي د pomology په نامه یادیږي. پومولوژیکي څیړنې د میوه لرونکو بوټود کرنې په تخنیکونو او د فزیولوژیکي (وظیفوي) مطالعاتوپه انکشاف باندې زور اچوي. د میوه لرونکو بوټو د اصلاح کولو موخې د میوه جاتو په کیفیت کې ښه والی راوستل،د تولیدي مراحلو تنظیم او د هغو د تولید د قیمت کمول دي.

کله چې مونږ د میوه لرونکو بوټو د اصلاح په باره کې اورو نو معمولاً زمونږ مخې ته د نوع یا variety او cultivar تخنیکي اصطلاحات راځي.د دغې اصطلاحاتو استعمال اکثراً روښانه نه وي،کوم چې په اسانۍ سره د میوو کرونکي مشوش کوي. Variety د نوع(species) یوه فرعي څانګه ده چې په رسمي توګه د subspecies او forma تر منځ درجه بندي کیږي. دا د بوټو په نوم اېښودنه کې په دې ډول ښودل کیږي چې لومړی د نوع نوم راځي او ورپسی د variety نوم راځي. د مثال په ډول prunus dulcis amara چې عام نوم یې تریخ بادام دی. دوی د ځنګلي نوع ډولونه دي چې دطبعي انتخاب په واسطه وده ورکړل شوی ده. په دې معنا چې دوی کولای شي بدون د کرلو(cultivation) څخه نمو وکړي. یا په بل عبارت variety د طبقه بندی یوه کټه ګوري ده چې د یوې نوع د غړو څخه چې د عین نوع د نورو غړو سره په کمه اندازه توپیر ولري چې د ارثي خواصو له جملې څخه دي" هغه انواع چې په نبات پیژندنه کې معمولاً پیژندل کیږي"

Cultivar د باغ دارۍ یوه نوعه ده چې د طبعي انتخاب په واسطه نه بلکې د انتخابي روزنې په واسطه تولیدیږي. او یوازې په cultivation کې دوام کولای شي (په ځنګلي بوټو کې نه موندل کیږي). د بوټو په نامګذاري کې cultivar په یو قوس( quotes) ښودل کیږي. دوه رګه(hybrid) نباتات د دوه مختلفو نوعو تر منځ او یا د یوې نوعې د دوه مختلفو ډولونو(varieties) د دوه رګه کولو(crosses) په واسطه تولیدیږي. دوه رګه (hybrids) ممکن د طبعي انتخاب او یا هم انتخابي روزنې (Hybridization یا د یو ځای کولو دعملیې) په واسطه ممکن واقع شي. د بوټو په نوم اېښودنه کې دوه رګه(hybrids) د والدینو تر منځ د ضرب په علامه (x ) ښودل کیږي نوځکه cultivar یو کرل شوی نبات دی چې دهغه د ښکلي او مفیدو مشخصاتو په نظر کې نیولو سره انتخاب شوی او یو بې جوړې (بې مثاله) نوم ورکړل شوی دی. دا معمولاً د ورته بوټو څخه ځرګند، واضح ، او کله چې کرل کیږي خپل مشخصات بیرته اعاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرل شوو بوټو لپاره د نامگذاري د بین المللي قوانینو په اساس باید یو کرل کیدونکي نوعه د نورو کرل کیدونکو نوعو څخه څرګنده او د دې امکان موجود وي چې په باوري ډول په زوجې او غیرزوجې ډول تکثیر شي په داسې ډول چې د مشخص کرل کیدونکي نوع لپاره توصیه شوی وي.

د cultivar اصطلاح د یوه عالم پواسطه چيLiberty Hyde Bailey نومیده، وضع شوي ده. دا اصطلاح د دوه کلمو "cultivated" او "variety" څخه تشکیل شوي ده مګر کیدای شي د "cultigen" او "variety" څخه مشتق شي. همدارنګه دا یوه هسپانوي کلمه ده چې د کرلو (to cultivated) معنا لري. د cultivar کلمه د variety عوض کیدای نه شي او نه د (plant variety) د قانوني اصطلاح سره سمون خوري. Cultivar د Bailey د cultigen د پراخه ګروپ بندۍ یو فرعي سټ (subset) دی او په دې ډول تعریف کیږي چې: هغه نبات دی چې د انسانانو په واسطه په سنجیده ګۍ سره تبدیل او غوره شوی دی.

د cultivar کلمه په دوه مفهومونو استعمالیږي، یو د cultigen د ګروپ بندۍ د کټه ګورۍ په ډول او بل د cultigen د تفریق پذیر ګروپ په ډول.

د کرل شوی نبات لپاره د ۲۰۰۴ میلادي کال د نامګذارۍ د بین المللي قانون په اساس cultivar د classification category په ډول په لاندې ډول تعریف کیږي.
"..........د کرل شوو نباتاتو ابتدایي کټه ګوري ده د کوم نامګذاري چې د Art.2.1 قانون (لایحې) په واسطه وضع کیږي."

او د cultigen د تفریق پذیر ګروپ په ډول cultivar په لاندې ډول تعریف کیږي.
"د نباتاتو یوه مجموعه (ټولی) کوم چې د یو مشخص کیفیت او خاصیت او یا د هغوی د ترکیب لپاره انتخاب شوی دی، او کوم چې په خپلو خواصو کې په واضح ډول څرګند ، یو شان اوثابت وي او کله چې د یوې مناسبې طریقې په واسطه تکثیر شي خپل خواص خوندي وساتي(Art.2.2) ."

## ۲. د ساحې برابرول(site prepration)

د میوو د تولید انکشاف د دریو څخه تر پنځه کلونو پورې وخت نیسي. په دې دوران کې د میوو بڼ د انکشاف دځو مرحلو څخه تیریږي. لاندې جدول د میوو د باغ د انکشاف عمده مرحلې خلاصه کوي.

| وخت | اساسي مرحله | فرعي مرحله | اساسي فعالیتونه |
|---|---|---|---|
| ۴-۳ میاشتې | د کر لپاره د ساحې برابرول | د هرزه بوټو څخه ځمکه پاکول | پاکول او للون (ګوډ کول) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| مخکې له بوټو کرلو څخه | | د ځمکې اماده کول | ۱. خاوره پستول<br>۲. یوې کول<br>۳. غابښوره او ماله کول<br>۴. هوارول<br>۵. terracing<br>۶. bunding( پولې جوړول)<br>۷. کتاره یا شپول تاوول |
| | | د باغ نقشه جوړول | ۱. نمونه جوړول<br>۲. کتارونه جوړول او د بوټو تر منځ فاصله تعینول<br>۳. د خړوبولو د سیستم ټاکل<br>۴. کوتې ویستل<br>۵. سره یا پارو اچول<br>۶. کوتې ډکول او د هغوي په نښه کول |
| ۱-۳ کالو پورې | کرل | د نیالګیو کښېنول | ۱. د نیالګیو برابرول<br>۲. د نیالګیو کرل<br>۳. کندوړی ساځول<br>۴. موګې ټک وهل(staking)<br>۵. په پاڼو پټول<br>۶. اوبول(خړوبول) |
| | د باغ اداره کول | د میوه لرونکو بوټو روزل (training) | ۱. د څانګو د څوکو غوڅول<br>۲. د ۱-۳ کالو پورې نیالګي ته شکل ورکول<br>۳. موګې ټکوهل(staking)<br>۴. تکیه ورکول او څپره جوړول<br>۵. cloth pinning<br>۶. کندوړي سازول (basin formatiom)<br>۷. staking<br>۸. په پاڼو پټول<br>۹. خړوبول<br>۱۰. للون کول<br>۱۱. د مضره حشراتو او ناروغیو اداره کول |
| ۴-۵ کالو پورې | | میوه لرونکو ونو ته شکل ورکول | ۱. د نبات تغذیه<br>۲. ۴-۵ کالو پورې د لښتو غوڅول<br>۳. Staking<br>۴. تکیه ورکول او څپري جوړول<br>۵. Clothing pinning<br>۶. کندوړي جوړول<br>۷. Staking<br>۸. په پاڼو پټول<br>۹. اوبول<br>۱۰. للون کول<br>۱۱. د مضره حشراتو او ناروغیو اداره کول<br>۱۲. د نبات تغذیه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵-۱۲ کالو پورې | | د تولید اساسي مرحله | ۱. شاخبري<br>۲. تکیه ورکول<br>۳. خړوبول<br>۴. د مضره حشراتو او ناروغیو اداره<br>۵. د نبات تغذیه<br>۶. د میوو ټولول |
| ۱۲-۱۵ کالو نه وروسته | ترمیمي مرحله | د میوو د بوټو خیرازه کول | ۱. top cleft propagation<br>۲. د پټونو(پوستکي) ویستل<br>۳. تکیه ورکول او د ځېرې جوړول<br>۴. cloth pinning<br>۵. په پاڼو پټول<br>۶. خړوبول<br>۷. للون کول<br>۸. د مضره حشراتو او ناروغیو اداره<br>۹. د نبات تغذیه |
| | | د باغ ختمول | د باغ ختمول |

منبع: F.Sandor, Rop-Jalalabad, Afghanistan (2008)

د میوه جاتو د باغونو جوړولو لپاره د ساحې انتخاب او د غوره نوع ټاکل لومړی شرط ګڼل شویدی. د تولید لپاره د میوو اقسام او حالات دواړه باید یو له بل سره په نظر کې ونیول شي. اقلیمي شرایط لکه ارتفاع ، تودوخه، رڼا ، باد ، چنې او اورښت په یوه ځانګړې ساحه کې د میوو د اقسامو په تعین کې رول لري. د ساحې انتخاب د مناسب اقلیمي شرایطو سره د یوې خاصې میوې د تولید لپاره ضروري دی. د اقلیمي شرایطو سره په خوا کې نور عوامل لکه توپوګرافي ، د خاورې ډول او حالات، بازار ته نږدیوالی، ساحې ته لاس رسیدنه ، د کارګرانو شته والی او د اوبو حالات باید په نظر کې ونیسو. د میوو بوټې په ډیرو طریقو طبقه بندي کیږي چې د یو باغ د جوړولو لپاره د هغوي د جملې ځخه یوازې درې مهمې دي.

اولنی ګروپ د اقلیم په نظر کې نیولو سره عبارت د حاره او معتدلو سیمو د میوه جاتو ځخه دی.


په دوهم ډول طبقه بندۍ کې میوه جات په دوه ګروپونو ویشل شوي دي :

۱- هغه نباتات چې د کم اورښت په ساحو کې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- هغه نباتات چې د لوړ اورښت په ساحو کې کيږي.




ددمیوه جاتودریمه طبقه بندي د القاح د پروسي په اساس شویده. اکثره نباتات په عین ګل کي مذکر جنسي(androecium) او مؤنث جنسي(gynoecium) غړي لري دغه ډول ګلان د Hermaphroditic (androgenus) ګلانو په نامه يادوي. د میوو هغه بوټي چي مذکر او مؤنث غړي يي د په عین نبات په مختلفوګلانو کي وجود لري د (monoecious) په نامه يادېږي. نوري وني لکه paw-paw(papaya) مذکر او مؤنث ګلان په بيلو ونو کي موجود وي چي د (dioecious) نباتاتو په نوم يادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




القاح په دري طريقو صورت نيسي. که چېرې يو نبات د ورته نبات د ګردې په واسطه القاح شي د خپل منځي القاح( self-fertile) او يا د مطابقت (self-compatible) په نامه ياديږي. ځيني ددې نباتاتو


منبع:دا تصوير Ferenc Sandor اخيستی

شخه ددې ورتيا لري چې بدون د خارجي القاح کوونکي ( external pollinator) شخه القاح سرته ورسوي. ددې وصفي مثال دادی کله چې دګل د تذکير اله(stamens) دګل د تانيث الې (pistil ) سره په تماس کې هغې ته ګرده انتقال کړي. دغه پروسه د self –pollination په نامه ياديږي ، مګر د – self pollenization سره يو شان نه ده( سره ددې چې اکثره د شفتالو کرل کيدونکي نوعې(peach cultivars) حشرې د القاح لپاره استعمالوي.)

نور ټول self-fertile او self-infertile ) دا د ورته نبات د ګردې په واسطه القاح کيدای نه شي) نباتات biotic pollination او abiotic pollination ته ضرورت لري.




۲ شکل: Life and annual cycle of Fruit trees (Cselotei-Nyujto-Csaki, 1985)

(c) ketabton.com: The Digital Library



Biotic pollination هغه وخت واقع کيږي چې القاح د يو ژوندي ارګانيزم په واسطه سرته ورسيږي. يو نبات په مختلفو طريقو ارګانيزم ځانته جذبولای شي (pollination syndrome ). ارګانيزم ممکن حشره وي (Entomophily) او يا فقاريه حيوانات (Zoophily) وي. Abiotic pollination هغه وخت واقع کيږي کله چې القاح د نورو فکتورونو په واسطه سرته ورسيږي لکه دباد په واسطه (Anemophily) او يا د اوبو په واسطه (Hydrophily). هغه عامل يا ارګانيزم چې د القاح سبب ګرځي د القاح کوونکي يا (pollinator) په نامه ياديږي. هغه نبات چې self-infertile دي کله چې هغوي القاح کيږي نورو نباتاتو ته ضرورت لري تر څو د هغوي لپاره دګل ګرده (pollen) برابر کړي. هغه نباتات چې د بل نبات لپاره ګرده يا pollen برابروي د ګرده برابروونکي(pollenizer) په نامه ياديږي.

Biotic او abiotic القاح په دوه طريقو صورت نيولای شي:

۱. د بل نبات پواسطه القاح کېدنه (cross pollination) : د self-infertile په صورت کې ګرده د بل نبات په واسطه تهيه کيږي نو ځکه هغه pollinator او external pollenizer ته ضرورت لري.

۲. پخپله القاح کېدنه(self-pollenization (auotogamy: په دې ډول القاح کې ګرده د عين ګل ښځينه برخې ته انتقاليږي يا د ورته نبات بل ګل ته انتقاليږي. Self-pollenization يوازې pollinator ته ضرورت لري.

دميوو د نوعو ځينې cultivars ، self-sterile دي. په دې معنا چې د يو شان cultivar د ګردې په واسطه القاح کيدای نه شي. هغه ګرده چې د عين نوعې د مختلف cultivar څخه راځي د pollinator په نامه ياديږي. مونږ کولای شو چې دغه ډول cultivars د منې ، بادام، الوچې او ناک د varieties تر منځ ومومو.

ددې لپاره چې القاح صورت ونيسي بايد ګرده د عين نوع (species) څخه راشي مګر په ځينو واقعاتو کې cross-pollination د عين جينس (genus) ددوه نوعو تر منځ ممکن دی چې صورت ونيسي. دغه ډول القاح د ستروسو د جنس په ليمو، نارنج او نارتيجي (naartije) نوعو تر منځ واقع کيږي.

په څو کلنو ونو کې pollinators مهم رول لوبوي. دوی کولای شي چې په حاصلاتو کې 20-30% زياتوالی راولي. د القاح اداره کول (pollination management) دزراعت يوه مهمه څانګه جوړه کړيده.


په امريکا کې د القاح په نتيجه کې په فصل کې يوازې ۴۰ بيلونه ډالرعايد لاس ته راځي او په فصل کې تخميناً ۳،۱ بيلونه سپما کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳شکل: د پولنیشن د مېتودونو لنډيز جدول:

**Summary table of pollination methods (Source: F. Sandor, RoP – Jalalabad, 2008)**




د میوه جاتو د انتخاب په وخت کې دهقانان باید په دقیق ډول د pollinizers تعداد او ځای د میوه جاتو د ډول د ضرورت په اساس تعین کړي. او که داسي و نه شي نو ګلان به القاح نه شي.

د شاتو د مچیو په واسطه القاح د pollination management غوره برخه ده. د شاتو مچۍ په سنجیده ګۍ سره شات او ګرده ټولوي تر څو د ګبین غذايي ضرورت پوره کړي. کله چي د شاتو مچۍ د يو ګل څخه بل ګل ته الوځي نو د ګردې ځيني داني د نورو ګلانو stigma ته انتقالوي چي د هغوي د القاح سبب ګرځي.

۲- جدول: د شاتو د مچیو د القاح د تمرین سپارښتنه


| د يو هکتار ځمکي په سر د مچيو د ګبين توصيه شوی تعداد | |
|---|---|
| عام نوم | د مچيو د ګبين تعداد |
| بادام | ۸-۵ |
| د نورمال اندازې لرونکي د مڼې بوټي | ۳ |
| متوسط قد لرونکي د مڼې بوټي | ۵ |
| ټيټ قد لرونکي دمڼې بوټي | ۸ |
| زردالو | ۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بلوبیري (Blueberry) | ۸-۱۰ |
| کرانبیری (Cranberry) | ۸ |
| نیکتارین (Nectarine) | ۳ |
| شفتالو | ۳ |
| ناک | ۳ |
| الوچه | ۳ |
| رازبیری (Raspberry) | ۳ |
| مخکنی توت | ۳ |

منبع: F.Sandor, Rop-Jalalabad, Afghanistan (2008)




۴شکل: د ساحې د انتخاب شرطونه، منبع: F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan (2008)

## ۱,۲ د ساحې پاکول:

د ساحې برابرول د ساحې په پاکولو سره پیل کیږي. د ساحې د پاکولو څخه وروسته دساحې د هوارولو مرحله راځي او که ضرورت وي نو terraces باید جوړ شي. دا باید په پام کې ونیسو چې د ځمکې د هوارولو او terracing د پروسې په جریان کې د خاورې د پورتنۍ برخې د مکمل لرې کولو څخه مخنیوی وشي. په هغه ځای کې چې د خاورې ژوروالی کم وي ممکن دا حادثه صورت ونیسي. په هر فارم (پټي ) کې دا مهم کار دی چې د باغ ساحې ته د لاس رسیدنې څخه ځان مطمن کړو. دا کار د crests, contours and diagonal سړکونو او لیارو موجودیت په صورت کې امکان لري.

## ۲,۲ د سړوکونو او پیاده رو جوړول:

څو ډوله سړکونه او پیاده رو موجود دي چې هر یو یې په لاندې ډول تشریح کیږي :

دغونډۍ دسر په څیر سړکونه(Crest road): د Crest غونډۍ پورتنۍ برخې ته وایې چې د هغې د څوکې څخه شروع کیږي او لاندې خواته د غونډۍ د غزیدو سره یو ځای د مجاورې درې (valley) سره یو ځای کیږي. هغه سړکونه او پیاده رو چې دغه ډول مسیر ولري د crest road په نامه یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستقیم پورته او ښکته ځوړ سړکونه او پیاده رو( Straight-up-and-down-slope roads and footpaths): دغه ډول سړکونه او لیارې د اساسي ځوړ سره یو ځای ښکته او پورته ځي.
خاکه سړکونه اوپیاده رو(Contour roads and footpaths): دغه ډول سړکونه او لیارې دطبعي منظرې کانټور (خاکه) تعقیبوي.دا په وصفي ډول په فارمونو خصوصاً په وړو فارمونو کې استعمالیږي. چیرې چې د کرنې اساسي میتود د یوې خاکې په اساس ترتیب شوی کرنه وي.
مایل مستقیم سړکونه او پیاده رونه (Diagonal roads and footpaths): دغه ډول سړکونه او لیارې د جوړې شوی خاکې ضلعې د یو څلورضلعي دقطرونو په ډول یو بل قطع کوي. دا ډول سړکونه او لیارې د تخریب سره مواجه وي. نو ځکه د تخریب د مخنیوي په خاطر قیمتي جوړولو ته ضرورت لري.
هموار سړکونه : دغه سړکونه صفا او ښویه سطحه لري چې د باران او سیلاب په واسطه تخریب ته زیات مواجه دي. ددې لپاره چې د سړک د زیات تخریب مخنیوی وکړو نو د سرک لپاسه bolsters جوړو چې د اوبو جریان ودروي. Bolsters موړې دي چې د سړک لپاسه جوړیږي.
جوړ شوي سړکونه او پیاده رونه (Formed roads and footpaths): دا ډول سړکونه د سړک د یوې خوا د خاورې څخه جوړیږي کوم چې د یوې خوا تخلیوي کانال جوړوي.چې د سړک اوبه راټولوي او د ځوړ لاندینۍ برخې ته یې انتقالوي.

## ۳,۲ د خاورې برابرول:

د خاورې برابرول د خاورې په حالاتو پورې اړه لري. د خاورې ترکیب او ساختمان دواړه د ځمکې په برابرولو کې یو د ډیر زیات بحراني فکتورونو له جملې څخه دی. ددهقان مطلوبه خاوره د ساختمان له نظره دانه دانه وي ، د عضوي موادو څخه غني وي، مسامداره او د هوا او اوبو د تبادلې او حرکت لپاره ښه وړتیا لري.
خاوره یو تعداد مشکلات او خطرات لري چې د خاورې په ترکیب او ساختمان، د لوړ او ټیټ غلظت القلي او سودیم درلودل، د هغې د مالګینتوب، چټلتیا او زهریت په اندازې ، او په هغې کې د عضوي مادې په حالت او بیولوژیکي خواصو پورې اړه لري. دغه ټول خاصیتونه په لاندې ډول ښودل شوي دي چې د هغوی د تولید د تمرین سره یو ځای توصیه شوي دي.

### دانه دانه ساختمان لرونکې خاوره

مشکلات او خطرات

- که چیرې خاوره بیخنده واړول شي خپل ښیرازوالی له لاسه ورکوي. کله چې د لومړي ځل لپاره شودیاره کیږي نو خاوره تر 50% پورې خپل عضوي مواد له لاسه ورکوي. ډیر دهقانان د ځمکې د برابرولو لپاره خاوره دوه ځلې قلبه کوي چې باید ددې مخنیوی وشي. په حاره مناطقو کې د خاورې په پورتنۍ طبقه کې د تورې خاورې (hums) ډبلوالی ډیر کم وي. په حاره منطقو کې د دهقانانو تر منځ دا ډیر عام رواج دی چې په وچ موسم کې خاوره کیندي تر څو د باران لپاره اماده وي. دا کار د خاورې ساختمان خرابوي ، خاورې ته په زیاته اندازه اکسیجن داخلیږي ، او په نتیجه کې مایکروبیولوژیک فعالیت هم زیاتیږي. میکروبونه عضوي مواد سیځي او کاربن ډای اکساید ازادوي. توره خاوره (hums) چې لاله مخکې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پورتنۍ طبقه نرۍ وي د غيرى محفوظې سطحې څخه نوره هم له منځه ځي. د عضوي سرې اچول به دغه غيرمتوازنتوب اصلاح نه کړي ځکه چې ميکروبونه به دتورې خاورې محتوي سريع وسيځي مخکې له دينه چې خاوره ترې استفاده وکړي.

- ❖ د پټي ژوراو په زياته اندازه يوه کول به کمزورې خاوره د پټي سرته را اوچته کړي او علاوه له دې څخه په زياته اندازه يوه کول د خاورې ساختمان تخريبوي ي او په هغه کې د leaching ( د عناصرو د وينځلو عمليه ) سريع کوي.
- ❖ د مالې په واسطه خاوره داسې ماله کړئ چې په ګرد بدله شي په تعقيب يې د خاورې سطحه د cylinders په واسطه متراکمه کړئ. دغه ميتود د خاورې په ساختمان کې نه تلافي کيدونکې نقصان رامنځ ته کوي او نتيجې ته يې د fine laboured soil surface اصطلاح ورکړل شوى ده. د خړوبولو څخه وروسته ګرد په سمنټ مانندہ فلم بدليږي او د خاورې د مناسبې تهويې څخه ممانعت کوي.

- ❖ د ځمکې د برابرولو په دوران کې د خاورې سيځل خاوره تعقيم کوي چې په هغې کې هر ژوندی ارګانيزم له منځه ځي او د عضوي موادو محتوي يې سوځيږي. د دروزو سيځل د عضوي موادو د کموالي ،د منرالونو يو د بل سره په څير تجمع او دغه تجمعات يو له بل څخه د لرې کيدو سبب ګرځي.او دا په خپل وار ددې سبب ګرځي چې خاوره خپل دانه دار ساختمان له لاسه ورکړي.

سپارښتنې:

- ☒ کرکيله تر اصغري اندازې راکمه شي او خاوره بايد د پورتنۍ طبقې څخه ژوره وانه وړې تر څو دخاورې پورتنی قسمت(topsoil) اود خاورې د ښکتني قسمت( subsoil) (کوم چې ټيت کيفيت لري ) د ګډيدلو څخه مخنيوی وشي. همدارنګه په ځای ددې چې خاوره ژوره يوې شي بهتره دا ده چې subsoil loosener استعمال شي چې په subsoil کې متراکم طبقات جدا کړي. subsoil loosener نه يوازې د subsoil د پستې خاورې د پورته خواته اوښتو څخه مخنيوی کوي همدارنګه د خاورې د ساختمان د جدا کيدو سبب نه ګرځي. دا ممکن هر درې يا څلور کاله بعد عملي شي.
- ☒ که چېرې ماشينري استعماليږي نه بايد د خاورې د رطوبت اندازه په نظر کې ونيسو. د ډيرې وچې خاورې اړول په زياته اندازه لاندې خاوره پورته را اوچتوي خو که چيرې ډيره زياته لنده خاوره يوې شي نو يوه رطوبت ټيت او پرک کوي.
- ☒ د غوڅ شوي بوټو د سيځلو څخه بايد مخنيوی وشي او د نباتي سرې او يا شين پارو په ډول په خاوره کې واچول شي.خاوره مه سيځئ ځکه زراعت د راتلونکي لپاره دی او مونږ بايد لری نظر ولرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د هموار ساختمان لرونکي خاوره (Platy structured soil)

ستونزې او خطرات

- ☒ تکاثف : ددغه ډول خاورې اساسي مشکل تراکم یا تکاثف دی چې د مشینري یا د حیواناتو د عمل په نتیجه کې را منځ ته کیږي. دغه ډول خاوره زیات کثافت لرونکي وي ځکه ددوی د مسامونو تر منځ مسافه کمه وي خصوصاً د میده ترکیب لرونکي platy soils. هغه خاوره چې زیات کثافت لري په هغوی کې د ریښو نفوذ متاثره کیږي.

سپارښتنې :

- ☒ متوسطه اندازه یوه کول او soil loosener استعمالول: په subsurface کې د platy structure خاورې موجودیت دا راښئ چې خاوره په صحیح ډول اداره شوی نه ده. دغه نقصان د متوسطې اندازې یوې کولو او خاورې اومولو( soil loosener )کولو په واسطه کمیدای شي.
- ☒ د ونو شپول جوړول : په داسې حالت کې د اوبو او باد په واسطه د تخریب خطر زیات وي نو ځکه د تخریب مخنیوی د ونو د شپول په واسطه د دهقانۍ مهمه برخه جوړوي.

### بلاک شکله، منشور شکله او استوانه شکله خاورې ( Blocky, prismatic and columnar structured soils)

ستونزې او خطرات :

- ☒ په کلکه خاوره کې د بوټو ریښې په سختۍ سره نفوذ کوي. دغه ډول خاوره چې کله لنده شي پړسیږي او کله چې وچه شي چاودونه په کې منځ ته راځي د لي (clay) اندازه یې زیاته وي چې نسبت یې 2:1 وي.
- ☒ د عضوي مادې او خیرازۍ کموالی : خصوصاً هغه خاوره چې prismatic structured وي د کم کیفیت لرونکي وي او غیری حاصل خیزه وي. دا په عادي حالت کې د سطحې په ځای لاندې د طبقو په ډول پرته وي. او که چیرې په سطحه کې موجود وي د sodic یا alkaline حالاتو ښودونکی ده.هغه خاوره چې دprismatic او columnar ساختمان لرونکی وي په عمودي ډول چوي.

سپارښتنې :

- ☒ ژور شودیاره کول : د دې ډول خاورې په صورت کې شودیاره کول د ځمکې په برابرولو کې مهم رول لوبوي. د دغه خاورې په ژور ډول شودیاره کول قسماً د هغې د خیرازۍ سبب ګرځي.
- ☒ اضافي عضوي مواد په خاوره کې اچول : د ژور شودیاره کولو سره یو ځای د اضافي عضوي موادو اچول د هغې د ژوند ، ساختمان او خیرازۍ د ښه والي سبب ګرځي.

- ☒ د لاندې خاورې اومونکي الې(subsoil loosener) استعمال : د 50-60 cm پورې ښکته د subsoil loosener استعمالول یو بل توصیه شوی تخنیک دی. دغه تخنیک د اوبو په نفوذ او د خاورې په تهویه کې ښه والی رامنځ ته کوي او همدارنګه د هوازي (aerobic) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیرهوازي (anaerobic) تعملاتو تر منځ توازن رامنځ ته کوي.همدارنګه به د خاورې PH اصلاح شي.


د شګلنې خاورې لپاره سپارښتنې :

- ☒ Zero tillage practice: دشګلنې خاورې لرونکې ځمکې برابرول zero tillage practice ته ضرورت لري تر څو ممکنه تخریب محدود او خاوره وساتل شي. دخاورې په ټوله جوړونه کې باید کوشش وشي چې د خاورې ضایع اصغري اندازې ته راکمه شي.
- ☒ د زیاتې اندازې عضوي مادې اچول
- ☒ خاوره د شنیلي (بوټو) یا د ښه ورستو پاڼو په واسطه پټول دغه ډول خاوره تخریب ته مواجه وي نو ځکه باید د ټول کال په اوږدو کې پټه وساتل شي.
- ☒ په پټې او د هغې په اطراف کې د بوټو او محافظوي ساختمانونو قایمول

د لی (clay) لرونکي خاورې په باره کې سپارښتنې :

- ☒ په دغه ډول خاوره کې د شګلنې خاورې په نسبت باید په زیاته اندازه deep tillage practice او subsoil loosener استعمال شي.
- ☒ په زیاته اندازه د عضوي موادو اچول کوم چې د خاورې په کیفیت کې ښه والی راولي.

## ۴,۲ بنډینګ او تخلیوي شبکه( Bunding and drainage network)




۵شکل: Graded bund سرچینه: F. Sandor, RoP – Jalalabad (2008)


دا ټول د فزیکي محافظې د نقشې درجه بندي شوي او لیول شوي پرکټسونه دي.دغه درجه بندي شوي فزیکي اندازې فقط د حقیقي کانټور څخه یو سویه یا شیوه (ځوړ) دی تر څو اضافي اوبه په اسانۍ سره په هغو جریان وکړي.وصفي bund د graded bund څخه عبارت دی کوم چې د جوړ شوي اب رو (channel) سره جوړ شوي وي. لیولي یا کانټور اندازې په حقیقي کانټور وي چې څنډې رهبري کړي. دغه اندازې د اوربنت د ممکنه اندازې په ذخیره کولو او نفوذ کې کومک کوي.

یادونه: د خاورې د برابرولو اود فزیکي نقشې د اندازې په باره کې د لازیاتو معلوماتو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



Soil Testing, Perennial crop support series, Publication No.2008-001-AFG لارښود کتاب وګورئ.




۲شکل:تخليوي کانال
سرچينه: F. Sandor, RoP – Jalalabad (2008)

## ۵,۲ د خړوبولو د سيستم قايمول:

د خړوبولو سيستم د څلورو اجزاو څخه متشکل دی :

- Intake structure and pumping system: دا هغه ساختمان دی چې د منبع څخه د ذخيرې په طرف او يا مستقيماً پټي ته انحراف ورکوي په دې شرط که د پټي د اوبولو سيستم د ځمکې د جاذبې په اساس کار کوي.
- Conveyance and distribution system: Conveyance يو ساختمان دی چې اوبه د اساسي اوبه خور ساختمان څخه پټي ته انتقالوي.د توزيع سيستمونه يې د کانالونو ، لښتيو يا پايپلاينونو څخه عبارت دي چې اوبه خړوب شوي پټي ته انتقالوي.
- Field application system: دا د خړوبولو مختلف سيستمونه دي.
- Drainage system (تخليوي سيستم): دغه سيستم د پټي څخه اضافي اوبه اوباسي.واړه دهقانان معمولاً د ځمکې د جاذبې په اساس برابر شوي د اوبه خور سطحي مېتودونه استعمالوي. د سطحي خړوبولوسيستم (Surface irrigation) د ځمکې د جاذبې په اساس کار کوي او اوبه د سطحې لپاسه جريان کوي.د surface irrigation درې ډولونه موجود دي :
- د کندوړي خړوبولو تخنيک (Basin irrigation technique): په دې تخنيک کې ټول پټی خړوبيږي.
- د کيلونو د خړوبولو تخنيک(Furrow irrigation technique): په دې تخنيک کې اوبه په کيلونو (دوکچو) کې جريان کوي.
- د پولو په واسطه د خړوبولو تخنيک(Border irrigation technique): په دې ډول کې اوبه په اوږدو ترانګو کې کوم چې د پولو په واسطه يو له بل څخه بيل شوي دي جريان کوي.Basins په اوږدوالي او پراخوالي کې تقريباً يو شان وي او Borders ځو وارې نظر خپل پراخوالي ته اوږده وي.

ددې ميتودونو اساسي خطر د باغ د اندازې څخه زيات يا کم اوبه کيدل دي. او دا د دې سبب کيږي په اول کال يا شپږو مياشتو وروسته د کرلو څخه تنکي بوټي له لاسه ورکړي.


يادونه :د خړوبولو د سيستمونو په باره کې د زياتو معلوماتو لپاره لاندې لارښود کتاب وګورئ :
Soil Testing, Perennial crops support series, Publication No.2008-002-AFG.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶,۲ شپول یا احاطه جوړول (Fencing)


د ونو شپول ، کتاره جوړول او د باد د تخریب کنترولي اندازي د agroforestry practice پوري تعلق لري. ونې او بوټي د باغ په دننه او خارج کې کولای شي چې نمو وکړي چې د خاوري او د نمو په حال کې تنکيو نيالګيو د حفاظت سبب ګرځي. د کتاره کولو او د باغ د تنکيو بوټو د حفاظت لپاره ځينې اساسي میتودونه وجود لري.



۷شکل:د باغ ګردچاپېره د ونو کمربند
سرچینه: F. Sandor, RoP – Jalalabad (2008

### طبعي ځېري کمربندونه (Natural shelter belts)

کله چې مونږ يو نوی باغ تاسيس کړو او د هغې ځنګه ګياوې لرې کړو نو خاوره او تازه کرل شوي دمیوو بوټي د حرارت او تخريب په مقابل کې يو څه محافظې ته اړتيا لري. چې دا هدف د ۲۰-۳۰ سانتي متره پراخه shelter belt د پرينبودلو په واسطه لاس ته راځي. دغه کړی (belt) د ساحې د کاتېور په اوږدوالي چاپيريږي.



۸شکل:د ونو د قطار واحده تراډه
سرچینه: F. Sandor, RoP – Jalalabad (2008)

Planted shelter belter


دا په اباده ځمکه طرحه شوی او کرل شوی belt دی کوم چې دموجود طبعي ونو belts په ځای استعماليږي.

### د ونو قطارونه او تراډه (Tree lines and strips)

دا د پټي د برید په اوږدوالي لوړ او واړه چترۍ مانند ونو لرونکو وي. دا کیدای شي يو يا دوه قطارونه وي. د ونو قطارونه او تراډه معمولاً د ونو د باد ماتوونکي (windbreak) په نامه پيژندل کيږي.

د کاتېور د اندازې لپاره ونې :

يو ډول ونې او بوټي کيدای شي د contour markers ، buffers ، level ، graded bunds او drain channels باندې وکرل شي. د ونو تر منځ مسافه کيدای شي په لاندې ډول وي :



۹ شکل، Windbreak سرچینه: F. Sandor, RoP – Jalalabad (2008)

- لنډه مسافه لرونکي ونې ( closely spaced tree): لکه Leucaena leuecocephala او نور.
- پراخه مسافه لرونکي ونې ( widely spaced tree) : لکه Cassisa siamea ، Albizia lebbeck او نور.
- ډير پراخه مسافه لرونکي ونې ( very widely spaced tree) : لکه Faidhebida albida او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### حیاتي شپول (Live fence)

دا د ګڼو او ببرو ونو او بوټو مانعې دي. حیاتي شپول د اوږدې مودې لپاره محافظه کوي او نظر د شپولونو یا احاطو نورو مېتودونو ته ارزانه دی.

د ساحې د اماده کولو لارښود :

د ساحې اماده کول د باغ د تاسیس بحراني مرحله ده. دغلط انتخاب شوی اندازو د درست والي لپاره د پام وړ اندازې لګښت ته ضرورت وي. نو ځکه ددې پروسې په جریان کې لاندې لارښودنې له مونږ سره کومک کوي.

- د ځمکې صحیح انتخاب (correct land selection)
- د اوبو د لارو قایمول
- د غونډۍ د سر په څیر د سړکونو(crest roads) او پیاده رو قایمول
- د تخلیې د شبکې قایمول
- په ترتیب سره د پولو جوړول
- د خاکو د اندازو( contour measures) جوړول
- د پولو ، وړو کاسواو نورو جوړول
- پټې ته د لاس رسې جوړول
- د خاورې د فزیکې تخفظ اندازې (Physical soil conservation measures) :د داسې یو سیستم غوره کول چې په مؤثر ډول د اورښت او خړوبولو تنظیم وکړای شي. (Store and release water)
- agronomic and agroforestry measures
- قبلونه( acceptation) : د سیستم کره کول او مکمل کول د یو پوره واحد په ډول

## ۳. د باغ نقشه کول (Orchard layout)

### ۱,۳ اساسي اندازې (Basic measurement)

منبع:دا تصویرFerenc Sandor اخیستی



د راتلونکې باغ اندازه د میوی په ډول ، د تولید په شدت ، او د پخو ونو په په اندازې (لنډ قده او متوسط قد او نور) پورې تړلی دی. ددې خواصو په نظر کې نیولو سره په مساوي مساحت لرونکو ساحو کې د کرل شووبوټو په تعداد کې تغیر راځي. اولنی هدف د یو د قاعدوي کرښې(baseline) جوړول دي. نورې ټولی اندازې او فاصلې baseline ته د هغې د موقیعت په نظرکې نیولو سره تنظیم او جوړیږي.Baseline په یو پټې کې ددوو مخالفو نقطو تر منځ یو مستقیم خط دی. دغه دواړه نقطې به د دوو پایو(ستنو) په واسطه


(c) ketabton.com: The Digital Library



په نښه شي.دريمه ستنه به ددواړو ستنو تر منځ کرښه باندې ودرول شي.په اخره کې څلورمه ستنه د دريمې او څلورمې ستنې تر منځ بايد ودرول شي. له دې وروسته بايد د دريمې ستنې موقيعت نظرد اولی او څلورمې ستنې موقيعت ته درست شي. وروسته له دې نه بايد څلورمه ستنه وکتل شي او د هغې موقيعت نظر د دويمې او څلورمې ستنې ته درست شي. دغه سمونې ته بايد تر هغې دوام ورکړل شي تر څو څلور واړه ستنې د پټې د دواړو نقطو تر منځ په يوه مستقيمه کرښه واقع شي.

د مراتبو ترتيب يې په لاندې ډول دی:

- ❖ د Aاو B ستنې (مقابلې نقطې ) تنظيم کول
- ❖ د A اوB تر منځ د C نقطه تنظيم کول
- ❖ د B اوC تر منځ د D نقطه تنظيم کول
- ❖ د A اوD تر منځ د C موقيعت سمول
- ❖ د B اوC تر منځ د D موقيعت سمول
- ❖ اخرې دوه مرحلې تر هغې تکرار شي څومره چې ضرورت وي.




۱۰شکل: د مستقيمې کرښې جوړول

سرچينه: F. Sandor, RoP – Jalalabad (2008)


(c) ketabton.com: The Digital Library






۱۱شکل: قايمه زاويه جوړول(۳-۴-۵ميتود)
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

کله چې قناعت بخش baseline برابر شي ورپسې مرحله د قايمې زاويې (نوي درجې زاويې) او عمودي خطونو اندازه کول دي. د A ستنې څخه په base line باندې 4 m فاصله بيله کړئ او د يو موګي په واسطه يې په نښه کړئ. له دې وروسته يو 3 m اوږد تار د A ستنې پورې وتړئ او په بل سر پورې يې يو غټ ميخ يا يو تيره څوکه لرونکي لښته وتړئ. د لښتې په واسطه نيمه دايره په داسې حال کې رسموو چې تار مو ټينګ کش کړی وي. له دې وروسته يو بله نيمه دايره په خاوره رسموو په داسې حال کې چې دا وارې مو 5 m اوږد تار په موګي پورې تړلی وي. په هغه نقطه چې دواړه دايرې يو بل قطع کوي يو موګی ټک وهو. دغه ميتود ته 3-4-5 method وايي. د رسۍ د د ميتود (rope method) د استعمال په واسطه کولای شو چې د Baseline لپاسه يو عمودي خط رسم کړو. لومړی يوه نقطه د اندازه کولو لپاره د يو موګي په واسطه په نښه کوو. وروسته له دې يو رسۍ راخلو چې په يو سر پورې يې يو ميخ يا څوکه لرونکي لښته تړلی وي. د رسۍ اوږدوالی بايد د موګي او baseline تر منځ مسافې څخه يو څو متره اوږد وي. د رسۍ په بل سر کې حلقه د قايم شوي موګي پورې تړو. له دې وروسته په ځمکه باندې د ميخ يا لښتې په واسطه يوه دايره رسموو. نوموړې دايره به baseline په دوه نقطو کې قطع کړي. د دواړو تقاطع نقاطو تر منځ په مساوي فاصله کې يو موګی ځای په ځای کوو. دواړه موګي د baseline لپاسه عمودي کرښې جوړوي او د دغې کرښې او baseline تر منځ زاويه به قايمه زاويه وي.



۱۲شکل: په base line باندې عمود جوړول
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)




۱۳شکل: د ساحې ويشل په پلاټونو او ميدانونو باندې
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library




وروسته د baseline او قايمې زاويې د اندازه کولو څخه مونږ ساحه په منظم شکله پټيو(fields) او دځمکې په ټوټو (plots) ويشو.تر ټولو اول د موجوده ساحې کنجونه په نښه کړئ.وروسته له دې تاسی کولای شئ چې دغه ميدان په مثلث شکله ساحو باندې وويشئ. په استثنا د دې که چيرې درست مستطيل شکله بلاک موجود وي. د هر مثلث په baseline باندې عمودي خط جوړول به د مثلثونوارتفاع را وښئ. له دې معلوماتو څخه يو کس کولای‌شي چې د ساحې مساحت معلوم کړي.په دې ډول چې د مثلث د قاعدې اوږدوالی د هغه په ارتفاع کې ضربيږي او د ضرب حاصل يې په دوو تقسيموو.

يو ډير غټ مشکل ، مګر ډيره مهمه اندازه کوونکي کړنلاره ، دا ده چې افقي کرښې جوړې کړو او د terraces ، graded bunds او contour lines لپاره ځوړونه (slopes) ترتيب کړو. دا په دې خاطر چې د ميوو د بڼ لپاره surface irrigation قايم کړو. ددې هدف لپاره يو boning rod ، N-frame او tube water level استعمالولی شو. دغه ټول افزار د بازار څخه اخيستلی شو او يا يې هم په کور کی جوړولی شو. Bonding rod د T حرف ته ورته يو د لرګي اله ده چې اوږدوالی يې 100 cm او cross lath (د bonding rod پورتنۍ ټوټه) يې 50 cm اوږد وي. د لرګي د دواړو ټوټو پراخوالی 10 cm وي.يو دهقان ته د اندازه کولو لپاره 3-4 عدده bonding rods ته ضرورت وي. همدارنګه N-frame هم د لرګي څخه جوړ شوی دی.



۱۴شکل: Bonding rod
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

د دې الی اساسي ټوټه(main lath) 2-3 m اوږدوالی لري او په دواړو نهاياتو کې يې پښې موجودي وي چې هر يو يې 90 cm اوږدوالی لري. د دې الی پښې د cross poles په واسطه تقويه شوي دي. د اساسي ټوټې لپاسه په منځنۍ برخه کې carpenter level د يوې ټوټې په واسطه تړل شوی وي. قاتيدونکی tube water level د دوو ستنوڅخه چې 10 cm پراخې او تقريباً 1.7-2.0 m اوږدوالی لری او د يو شفاف قاتيدونکي پايپ (hosepipe) څخه جوړ شوی دی. لومړی د پايپ دواړه نهايتوه د يوې ټوټې په واسطه د ستنې په اوږدوالی تړو. دغه ستنې بايد له مخکې څخه په خيل اوږدوالی کې درجه بندي ولري.



۱۵شکل: N-frame
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

او که چيرې اندازه ونه لري نو دهقان کولای شي چې ستنه په 1-1.5 m لوړوالي کې په نښه کړي چيرې چې د اوبو سويه د افقي کرښی د اندازه کولو په وخت کې ودريږي. له دې وروسته شفاف پايپ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنگه اوبو څخه ډکوو. او له دې څخه ځان مطمن کوو چې په داخل د پایپ کې به د هوا پوکانۍ نه وي.

د دې په خاطر چې یو افقي مستقیم خط رسم کړو نو لومړی یوه مستقیمه کرښه اندازه کوو او په دواړو نهایاتو کې یې موګې ټک وهو. له دې وروسته د دواړو موګو تر منځ د سویې تفاوت (level difference) پیداکو. د دې هدف لپاره د متحرک یا انتقال کیدونکي ټیوب څخه کار اخلو.د tube water level دواړه پایې د موګو لپاسه ودروو. د موګیوو لوړوالی تر هغې پورې درستوو تر څو چې د tube water level دواړه نهایاتونه عین سویه وښئ.په همدې ډول تاسی کولای شئ چې د tube water level په واسطه د میدان د دوو نقطو تر منځ د سویې تفاوت پیداکړو.د موګیو له پاسه ستنې کیږدئ او اندازې ځان سره ثبت کړئ. د دوړو اندازو تر منځ تفاوت د میدان د دوو نقطو تر منځ تفاوت راښیئ.

همدارنگه د یو افقي کرښې د جوړولو لپاره کولای شو چې boning rods استعمال کړو.لومړی د boning rod د دواړو پښو د ښنبو تر منځ یوه مستقیمه کرښه رسموو او په ځای یې متوسطه اندازه موګې ټک وهو. د موګو لپاسه boning rods په ځای کوو او د rods لپاسه ګورو چې له دې څخه یو کس کولای شي چې هریو موګی درست کړي.

د ځوړ(slopes) او contour lines د سمولو لپاره N-frame یوه ګټوره اله ده. په دواړو حالاتو کې یې طرزالعمل یو شان دی. د الې یوه پښه د لومړني bench mark لپاسه ږدو. او frame (چوکاټ) ته د دې پښې په چاپیر دوران ورکوو نو په داسې یوه نقطه پیداکولای شو چې په ځمکه لږیدلې وي. او د Carpenter level پوکنۍ د ښنبو تر منځ وي. یو موګی د دې نقطې په ښنبه کولو لپاره ټک وهئ او عین پروسه بیا تکرار کړئ مګر دا ځلې به د شروع نقطه د موګي لپاسه وي کوم چې ټک وهل شویدی.


## ۳.۲ فزیکي نقشه (physical layout)

وروسته له دې نه چې ساحه برابره شي دهقان د دکرلو د سیستم په اړه تصمیم نیسي کوم چې د orchard layout په نامه هم یادیږي. Orchard layout د ځمکې په ځوړ، د خړوبولو په سیستم ، تخلیې او د کرونکو ونو په نوعې پورې اړه لري. اساسي فعالیتونه یې په لاندې ډول دي :

- د پټي د څنډې څخه یوه مستقیمه کرښه (base line) رسموو کوم چې کیدای شي سړک، کیږیا شپول وي.
- قایمه زاویه په ښنبه کول
- یو base line یو اساسي قطار جوړوي او بله کرښه چې د اولنۍ کرښې سره په قایمه زاویه سیر غوره کوي هغه کرښه جوړوي په کوم کې چې اولنۍ ونه په هر قطار کې کرل کیږي.
- Base lines د مرجع نقاطو په ډول استعمالوو. د میچ فیته(tape) د یوې کرښې په اوږدوالي غزوو او په مناسبو فاصلو کې موګې ټک وهوو په کومو کې چې وروسته ونې کرل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






عموماً orchard layout یو منظم شکل تعقیبوي دغه شکل کیدای شي د مربع ، مستطیل ، مثلث Hedgerow، او نورو په ډول وي. د نمونو(ماډلونو) لپاره دوه عمده ګروپونه موجوددي. واړه دهقانان اکثره مربع شکلونه یا مستطیل شکله نمونې استعمالوي مګر په عین حال کې hedgerow یا quincunx ماډلونه د زیات او لوړو حاصلاتو د تولید لپاره ډیر مناسب دي. د نیله بوټي ډول (rootstock) او دشاخبري کولو میتود هم د د کرلو نمونه متاثره کوي. ټیټې او متوسطه اندازه ونې د hedgerow ماډل لپاره ډیرې مناسبې دي.

۱۲شکل: د باغ نقشه

سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)





۱۷شکل: د باغ دنقشې لپاره مثلثي نمونه


سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library







۱۸شکل: د باغ د نقشې لپاره مربعي نمونه
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)





۱۹شکل: د باغ د نمونې لپاره مستطيلي نمونه
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)





۲۰شکل: د باغ د نقشې لپاره Quincux نمونه
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۱شکل: د باغ د نقشې لپاره Hedgerow نمونه
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)




۲۲شکل: د باغ د نقشې لپاره د متساوي الاضلاع مثلث نمونه
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

# ۴. د میوه جاتو د ونو کرل

## ۱,۴ د کرلو لپاره د کوتي (hole) برابرول


د کرلو لپاره کوتي (planting hole) تقریباً باید 60 cm x 60 cm x 60 cm وي. کوتی وروسته د باران او یا د ځمکې د اوبه کولو څخه وباسئ. د خوسا پاڼو سره او ډیران د کوتي د برابرولو مهمه برخه ده. ځکه چې د اضافي عضوي مواد د خاورې فزیکي خواص ښه کوي او د ونې لپاره غذایي مواد تهیه کوي. هر کوتی تقریباً نیم لاس ګاډي ډیراني سرې (5-10kg) ته ضرورت لري. کله چې کوتی کنئ نو باید د سر خاوره (topsoil) د لاندې خاورې (subsoil) څخه بیله کړئ او د کوتی په اوږدوالي یې په دوه بیلابیلو ځایونو کې واچوئ.



۲۳شکل: د هغه نیالګیو کرل چې ریښې یې لوڅې وي
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۴شکل: د کرل شوی ونې په چاپیر کندوري
سرچینه: F.Sandor,RoP- Jalalabad(2008)


کله چې کوتی اماده شو نو ډیراني سره د سر د خاوري سره ګډه کړئ او د کوتي په لاندي برخه کې یې واچوئ.همدارنګه تاسی کولاﺉ شئ چې د دي سره 250 gr single super phosphateعلاوه کړئ. د کوتي پاتي برخه د لاندي خاوري (subsoil) په واسطه ډکه کړئ. د خاوري سویه به د سطحې د سویې څخه لوړه وي چې عادي خبره ده. کوتی د یو لرګین موګي په واسطه په ننبه کړئ او کم تر کمه دري هفتې مخکې د نیالکیو د کرلو څخه انتظار وباسئ. په دغه موده کې خاوره کښیني او ډیراني سره پخیږي.



سرچینه: دا تصویر د Ferenc Sandor په واسطه اخیستل شوی دی

## ۲,۴ نیالګي نیالول

د میوو ونې عموماً د پسرلي په موسم کې خریداري کیږي. چې د خریداري کولو څخه وروسته سمدستي باید وکرل شي. او که چېري امکان نه وي نو باید دهقان د ونو ریښې د لمدي خاوري ، د اري بور او یا د خوسا پانو په واسطه مرطوبې وساتي.




۲۵شکل: د نیالګي د کیفیت لپاره معیار
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ډوله نیالګي د نیالولو لپاره استعمالیږي. یو یې هغه ډول دی چې ریښې یې لوڅې وي او بل یې هغه ډول دی چې ریښې یې د خټې د یو غونډاري په واسطه پټې وي. یو ښه د لوڅو ریښو د نیالګي د



F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008):سرچینه

ډډ (تنې) قطر 12-16 mm وي دا خبره ددې حقیقت په واسطه روښانه کیږي چې که چیرې داسې نیالګي وکرل شي چې قطر یې ددې څخه کم یا وي نو دا به نسبت هغو ته زر ولړیږي.

کله چې نیالګي کرل کیږي نود یو ځای کیدو راوتی چوله (notch) باید شمال ختیځ خوا ته تاو شي تر څو د لمروهنې څخه بچ شي.

د لوڅو ریښو لرونکو ونو د کرلو پروسه په لاندې ډول ده :

- یو غټ کوتی وکنۍ چې د ریښو سره تطابق وکړي
- هر هغه ریښه چې ماته یا قات شوی وي باید غوڅه شي
- د کوتي له پاسه د کرلود تښتې ( planting board) د ټینګولو لپاره دوه موګي استعمال کړئ
- د planting board پر ځای د ونې ډډ کوم چې د مرکزي غاښې (central notch) سره جوړ راځي او پیوند یې باید د خاورې د سطحې څخه 5-10 cm پورته وي.
- تر هغې پورې باید کوتی ډک شي چې ریښې په مکمل ډول پټې شي
- په نرمۍ سره د ونې په چاپیر خاوره کیمنډئ
- خاوره هواره کړئ

که چیرې نیالګی په یو لوښي کې وي نو د کرلو طرزالعمل یې په لاندې ډول دی :

- د کوتي منځنۍ برخه په کافي اندازه تانه کړئ چې د نیالګي د root ball سره تطابق وکړي



سرچینه: دا تصویر د Ferenc Sandor په واسطه اخیستل


- د نیالګي څخه پلاستیکي خلته او یا بل لوښی لرې کړئ
- په root ball کې یو کم عمقه شق اجرا کړئ چې د ریښې انکشاف تحریک شي
- د root ball څخه ټولې دایروي او تاو شوی ریښې په نرمۍ سره کش کړئ
- په کوتي کې ونه نیغه ودروئ
- ونه په کوتي همغومره ډوبه کړئ څومره چې په لوښي کی ډوبه وه
- کوتی تر هغې ډک کړئ تر څو چې root ball په مکمل ډول پټ شي
- په نرمۍ سره د ونې په چاپیر خاوره کیمنډئ

(c) ketabton.com: The Digital Library




د دواړو ډولونو نیالګیو د کرلو د کرنلارې یوه برخه دا ده چې basin یا nest جوړ شي او سمدستي وروسته د کرلو څخه ونه اوبه شي. دغه basin یا nest باید یو متر قطر ولري. د basin په مرکزي برخه کې باید د خاورې سویه 10 cm جګه وي تر څو په اوبو کې د نیالګي د ودریدو څخه مخنیوی وکړي. دغه وړوکی ډېری باید تقریباً 25 cm قطر ولري. په basin کې د 8-15 cm په ضخامت سره د ونو پاڼې ځای په ځای کړئ چې د حرارت په مقابل کې خاوره محفوظه کړي او د ګیا وده مانده کړي. د basin د قطر اندازه باید د ونې د نموسره غټ شي. دغه پروسه د Widening the basin په نامه یادیږي د basin قطر باید د ونې د چتر (canopy) د اندازې سره یو شان وي. د ونې په چاپیر د basin اهمیت په لاندې ډول دی:

- ✓ د اوبو د ساتلو لپاره تر څو خاورې ته د اوبو نفوذ اسان کړي
- ✓ د سرې ، د ونو د پاڼو او نورو غذایي موادو د ساتلو لپاره
- ✓ د ونې د canopy لاندې د وښو کنترول اسانه کړي



۲۲شکل: کرل شوی نیالګیHeading کول
سرچینه:-F.Sandor,RoP
Jalalabad(2008)

وروسته د basin یا nest د جوړولو څخه بوټی سمدستي اوبه کړئ. تنکی ونه په هفته کې تقریباً 20-30 liters اوبو ته ضرورت لري. نوی کرل شوی بوټی معمولاً حمایې ته ضرورت لري.دغې پروسې ته staking the tree وایي. stake باید 1.2 m اوږد لرګین یا بانس وي. تنکی بوټی باید دstake سره د یو تارپه واسطه د اته عدد په ډول وتړل شي. دا خبره په کلکه توصیه کیږي د تار او ونې تر منځ د ربړ یوه ټوټه یا د مقوا کاغذ کیښودل شي چې د ونې د زخمي کیدو څخه مخنیوی وشي. د ونې تکیه کول د نیالګي سره کومک کوي چې په مناسب جهت نمو وکړي او لښتې د ماتیدو څخه ساتي.




۲۷شکل: د جنبي څانګو سره د نیالګي شاخبري
کول، سرچینه:F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

د دې لپاره چې ونه لاندې لښتې ونیسي نو د دهقان لپاره دا ضروري ده چې ونه50-60 cm لوړه غوڅه کړي. خو کله چې ونې ته لاس رسیده ګي اهمیت ولري نو باید د ونې لوړوالي 90 cm وي.سره له دې چې تازه کرل شوي ونې چې د ډډ قطر یې 9 cm او یا د دې څخه کم وي جانبي څانګې نه ورکوي او که چیرته وشي نو باید قطع شي. که قطر یې د 12 cm څخه زیات وي نو ونه جانبي څانګې نیسي کوم چې باید د ۷ سانتي مترو په اوږدوالي د دوه په درې جانبي غوټو سره قطع شي. دا په دې خاطر چې په اینده کې scaffold branch انکشاف وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه د لمر وهلو په مقابل کې محافظه کړئ د لمر وهلو په مقابل کې د ونې د محافظې لپاره دهقان باید white latex paint کوم چې په اوبو کې نیم نری شوی وي. دغه جوړ شوی مخلوط باید د خاورې د سطحې څخه 5 cm ښکته تطبیق شي او نور ټول ډډ د متبارزو غو ټیو (dominant buds) په شمول د دې مخلوط په واسطه رنګ شي. دغه پروسه باید په دوهم موسم کې بیا تکرار شي او هغه غټې لښتې چې د ماسپښین لمرسره مواجه وي هم رنګ شي.



۲۸شکل: د لمر وهلو څخه محافظه
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)

## ۳،۴ د کرلو په پروسه کې د القاح اداره کول

د ونو د کرلو د پروسې په جریان کې دهقان باید داسې حالات رامنځ ته کړي چې په اینده کې د القاح په عملیه کې مشکلات ایجاد نه کړي. او د باغ د تولید قابلیت زیات کړي.دغه قاعده د Good-self fertile cultivars لپاره ضروري نه ده. مګر دا د self infertile او self sterile cultivar لپاره ضروري ده. په دې حالاتو کې د تولید ورتیا د میوو د بوټو فاصله د pollenizer male tree یا cultivar څخه تعینوونکې ده.Self fertile cultivars ممکن په بلاکونو کې وکرل شي او مختلف cultivars په منتشر ډول کرل کیږي. د morello ، الوبالو، بادام او blackcurrant مختلف cultivars باید یو په بل پسې قطارونو کې وکرل شي. د بهې ،morello ، الوبالو، بادام او blackcurrant په صورت کې کیدای شي چې cultivars په قطارونو کې په مخلوط شکل وکرل شي.

۳- جدول د میوه جاتو د ونو او pollinizer تر منځ د اعظمي فاصلې پرېښودل

| دمیوه جاتو د ونو څخه د pollinizer اعظمي فاصله | |
|---|---|
| نوعه (species) | فاصله په متر |
| مڼه | ۲۵ |
| ناک | ۲۰ |
| الوبالو | ۱۰ |
| Morello(self sterile) | ۹ |
| الوچه(self sterile) | ۱۲ |
| زردالو(self sterile) | ۲۰ |
| بادام | ۲ |
| Blackcurrant | ۳ |
| غوز | ۱۰۰ |
| Chestnut | ۱۰۰ |

منبع: F.Sandor, Rop-Jalalabad, Afghanistan (2008)

د self sterile موریلو(morello) ، الوبالو او blackcurrant په صورت کې به غوره القاح هغه وخت رامنځ ته شي چې درې مختلف مګر د cross pollination لپاره برابر cultivars یو ځای وکرل شي.


(c) ketabton.com: The Digital Library




## ۴- جدول د میوو د ځینې انواعو د القاح مشخصات

| species (انواع) | self fertile | self sterile |
|---|---|---|
| منه | | هو |
| ناک | | هو |
| الوبالو | | هو |
| Morello | هو | هو |
| الوچه | هو | هو |
| زردالو | هو مګر د pollinizer استعمال توصیه کیږي | |
| شفتالو | هو | |
| غوز | هو | هو |
| بادام | | هو |
| Raspberry | هو مګر د pollinizer استعمال توصیه کیږي | |
| Redcurrant | هو | |
| Blackcurrant | هو | هو |
| Gooseberry | هو | هو |
| ځمکنی توت | هو | |
| امروت | هو | هو |


منبع: Csider (1978)





۲۹شکل: د په خپله القاح کیدونکو نوعو cultivars کیدای شي په منتشر ډول وکرل شي(A) . د الوبالو، موریلو، بادام او بلک کرنټ(blackcurrant) په یو بل پسې قطارونو کې کرل کیږي(B) سرچینه:- F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)




۳۰شکل: د الوبالو، موریلو، بادام او بلک کرنټ(blackcurrant) په یو بل پسې قطارونو کې کرل کیږي(C) د الوبالو، موریلو، بادام او بهي cultivar ممکن په مخلوط ډول په قطارونو کې وکرل شي(D) سرچینه:- F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)




۳۱شکل: د منو، ناک، شفتالو، زردالو او الوچې cultivars کیدای شي په بلاکونو کې وکرل شي(E) سرچینه: F.Sandor,RoPJalalabad(2008)




۳۲شکل: د منې او ناک cultivar کیدای شي په بلاکونو کې او د بلاکونو تر منځ د Pollenizer cultivars د یو یو قطار سره وکرل شي. سرچینه: F.Sandor,RoPJalalabad(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵. د باغ اداره کول ( Orchard management)

## ۱,۵ د شاخبري کولو عملیه (The pruning process)

د میوو د بوټوشاخبري کول د ونې د حاصلاتود اندازې په تعین کولو کې یو د ډیرو مهمو فعالیتونود جملې څخه دی. د دې اهمیت په لاندې څلورو خبرو کې خلاصه کیږي چې :


- یو قوي او مضبوط چوکاټ ته انکشاف ورکړو
- د ونې غوښتل شوی شکل د رڼا د مخنیوي ، د میوو د انکشاف او د اسانه عملیاتو لپاره وساتو
- د ونې د vegetative او generative نمو تر منځ توازن تنظیم شي
- حشرات او ناروغی کنترول شي

د شاخبري کولو د عمل درې اساسي ډولونه موجود دي :
Shaping fruit tree: دغه ډول شاخبري کول په ځوانه ونه کې scaffold branches ته انکشاف ورکوي کوم چې د میوو د دروند زغملی شي او د ونې اداره کولو ته په لاس رسی کې اساني رامنځ ته کوي
انتخابي شاخبري کول ( selective pruning) :
دغه ډول شاخبري کول د ونې د vegetative او generative نمو تر منځ توازن ساتي.
Rejuvenation: د شاخبري یو ډول دی چې د زړو ونو د ځوانولو په خاطر اجرا کیږي.
دغه ډول شاخبري کول پخې ونې صحتمندې او خیرازه ساتي. څلور ډوله دقلمي کولو الات موجود دي :

- دشاخبري کولو بیاتي او secateur
- Pruning shear
- د څانګو د غوڅولو لپاره د ارو مختلف ډولونه
- Jik یا Jeyes مایعات چې د نورو الاتو د وینځلو لپاره استعمالیږي ( د دې مایعاتو په واسطه د شاخبري کولو د الاتو له لیارې د ناروغیو او حشراتو د خپریدو څخه مخنیوی کیږي )

د میوو د ونو د درست شاخبري کولو لپاره ځیني قوانین موجود دي. وړې څانګې باید فقط د یو روغې غوټۍ څخه پورته قطع شي. غوټۍ ممکن د ونې څخه خارج خواته متوجه وي. نو د دې غوټۍ څخه پیداکیدونکې څانګه به د ونې د مرکز په طرف نمو نه کوي. د وړو نودو(shoots) د قطع کولو لپاره bypass shear استعمال مناسب دی مګر د غټو نودو د قطع کولو لپاره anvil ډیر ښه دی. د شاخبري کولو د پروسې په جریان کې درې عامې غلطۍ رامنځ ته کیږي :

- ❖ د غوټۍ سره نږدې غوڅول
- ❖ د غوټۍ نه ډیر پورته غوڅول




۳۳شکل: غلط او درست شاخبري کول
سرچینه:F.Sandor,RoPJalalabad(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ په مستقیم ډول غوڅول

د شاخبرۍ غوره غوڅول داسې وي چې د څانګې سره 45 درجې زاویه جوړه کړي. نسبتاً غټې لښتې باید د ډډ سره نږدې قطع شي. قطع کیدنه باید مایله وي تر څو د اوبو تویدو ته اجازه ورکړي. که چیرې اوبه د څانګې څخه توی نه شي ممکن ورسته شي. که چیرې دهقان په مکمل ډول لښته غوڅه کړي ممکن د ونې پوستکي خیرې شي. که چیرې قطع د ډډ څخه ډیره لرې وي نو لښته ممکن ورسته شي. د دې لپاره چې غټې لښتې غوڅې کړو نو توصیه شوی طرزالعمل په دې ډول دی چې دوه شقونه اجراکیږي. یو شق د لښتې له پاسه او بل ترې لاندې اجراکیږي. وروسته له دې څانګه له بره او ښکته نه تر هغې اره کوو چې دواړه شقونه یو له بل سره یو ځای شي. په دې ډول مونږ د څانګې د ماتیدو او د ونې د پوستکي د خیرې کیدو څخه مخنیوی کیږي.



سرچینه:-F.Sandor,RoP-Jalalabad(2008)
۳۴شکل: د څانګو درست او غلط قطع کول


د شاخبرې په برخې باندې باید د مستحلب (emulsions) ، رنګ (paint) او نورو موادو د تطبیق څخه مخنیوی وکړو دا ځکه چې دوی ممکن د رطوبت د جذب سبب وګرځي او اتنان ته لاره هواره کړي. په طبعي ډول قطع په ازاده هوا کې وچه او رغیږي.

د شاخبرې کولو پروسه په زیاته اندازه د ونې د فزیولوژي په واسطه متاثره کیږي. نو ځکه دا ډیره مهمه ده

چې د شاخبرې کولو ځینې cause-effect بنې وپیژنو.
په درست ډول دشاخبرې کولو د میتود انتخاب به په حاصل کې زیاتوالی رامنځ ته کړي مګر غلط میتود ممکن په حاصل باندې ناوړه نتیجې ولري.


د ونې یوه څانګه دوه ډوله بارزتوب (dominance) لري :

- ➢ لوړبارزیت( top dominance )
- ➢ قاعدوي بارزیت(basal dominance)



۳۶شکل: د څانګو په مختلفو وضعیتونو کې د میوو نیول (L.Cselorei)

Top dominance چې د apical dominance په نامه هم یادیږي دا معنا لري چې هغه غوټۍ کومه چې د څانګې په نهایت کې موجود وي نظر نورو څانګو ته په قوي ډول تیغ وهي او نمو کوي. که چېرې پورته غوټۍ لرې شي پاتې غوټۍ به هم تیغ ووهي. د دې پدیدې په نتیجه کې د سر غوټۍ ترنورو لومړی تیغ وهي. دا پدیده هغه وخت واقع کیږي چې لښته عمودي قرار ولري او یا د افقي کرښې سره د 30 درجو




۳۵شکل: د څانګې په مختلفو وضعیتونو کې جنبي نودې
سرچینه:(L.Cselotei(1985)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه لویه زاویه جوړه کړي.که چیرې لښته افقي وضعیت ولري نو بیا basal dominance په top dominance باندې بارز کیږي.په دې ډول هغه غوټۍ چې د لښتې د بیخ سره نږدې وي نسبتاً غټې او قوي وي اود هغې د نمو قدرت هم قوي وي.او که چیرې د لښتې هغه زاویه چې دافق سره یې سازوي 30 درجو ته تقرب وکړي نو دواړه بارزتوبونه په مساوي ډول کار کوي نو ځکه د لښتې په اوږدوالي ټولې غوټې په یو ډول تیغ وهي.دا یو خاص حالت دی که چیرې لښته د افقي وضعیت ځخه لاندې تاو شي.په دې حالت کې دواړه بارزتوبونه خپل تاثیر ساتي مګر د لښتې د قوس په برخه کې د غوټیو تیغ وهل په زیاته اندازه زیاتیږي. دغه تاثیرات د یوهارمون په واسطه رامنځ ته کیږي د auxin په نامه یادیږي.
د سر غوټۍ نوموړی هارمون تولیدوي کوم چې د ونې نمو تنظیموي. کله چې لښته افقي وضعیت ولري او یا له افق سره د 30 درجو ځخه کمه زاویه جوړه کړي نو په دې صورت کې به د غوټیو تعداد کوم چې ګلان تولیدوي نسبتاً زیات وي.

د شاخبرۍ مختلف میتودونه د دې پوهې په اساس ولاړ دي اوانتخاب یې د تولید کوونکي په هدف پورې اړه لري. د نبات د نمو د هارمون د تاثیر په پوهیدو سره مونږ کولای شو چې د شاخبري کولو د پروسې په جریان کې د لښتو د غوټیدو په نتیجه پوه او هغه تجزیه کړو. ځانګې په مختلفو اوږدوالو غوټیږي. د اوږدوالي په نظر کې نیولو سره ونه مختلف عکس العملونه ښیئ. که د ځانګې زیاته برخه غوځه شي نو د نودو تولید به قوي وي. اوږدې ځانګې په تیغیو وهلو کې کمزوری وي مګر کله چې شاخبري شي قوي کیږي. نسبتاً اوږدې لښتې لنډو لښتو ته زیاتې تولیدوونکي غوټۍ لري. باقي مانده غوټیو ته به زیات او متوازن غذایې مواد ورسیږي کوم چې د هغوی د نمو او انکشاف لپاره مناسب شرایط زیاتوي. د دې پوهې په لرلو سره دهقان یوه قوي اله تر لاسه کوي. هغه به د دې وړتیا ولري د ونې د vegetative انکشاف د مرحلو په دوران کې به د هغې نمو تنظیم کړي. هغه کولای شي چې قوي نمو کوونکي ځانګې د اوږدې شاخبري په واسطه ضعیفه کړي او ضعیفه ځانګې د لنډې شاخبري په واسطه قوي کړي.

یادوونه :
د شاخبري د قطع نوم د لښتې د پاتې برخې اوږدوالي ته راجع کیږي نه غوځې شوي برخې ته. نو په دې ډول اوږده قلمي هغه ده چې پاتې برخه یې اوږده او لنډه شاخبري هغه ده چې پاتې برخه یې لنډه وي.
د دې اصطلاحاتو درست تعبیر به داسې وي چې ووایو لښته لنډه یا اوږده غوځول.
د قلمي کولو معمول مستعمل میتودونه عبارت دي له :


- ✓ 2/3 شاخبري کول : دغه ډول شاخبري کول د حاصلاتو اندازه زیاتوي
- ✓ 1/2 یا نیمایې شاخبري کول : دا په منځنۍ برخه کې شاخبري کول دي
- ✓ 1/3 شاخبري کول: دغه ډول شاخبري کول حاصلات کموي مګر vegetative نمو تنبه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لښتې نسبتاً اوږده غوټول کول د دې سبب کيږي چې ونه وختې ميوه ونيسي نسبت دې ته چې لښته لنډه غوڅه شي. د ونې د شاخبرې کولو اساسي هدف هميشه دا وي چې ونه په وخت ميوه ونيسي مګر همزمان د ډيرې اوږدې مودې لپاره د لوړ حاصل د توليد ساتل دې چې دا د ونې د canopy د مناسب جوړولو له لارې ممکن دی. د ونې د canopy اخرې شکل همدارنګه د اقليمي شرايطو په واسطه متاثره کيږي. د مناسبو اقليمي شرايطو لاندې دا غوره ده چې يوه سسته او زياته تهويه شوې canopy ولرو. مګر په وچو ځايونو کې چيرته چې د خاورې غذايي محتوي ضعيفه وي، د ونې د بندې canopy استعمالېږه ډير مناسب وي.

د شاخبرې کولو د پروسې اندازه بايد د ونې د عمر او په هغه مرحله کې د هغې د توليد په نظر کې نيولو سره تر سره شي.د ونې د څانګو او نودو تعداد او د هغوی توزيع بايد د ونې د ظرفيت سره په توازن کې وي تر څو هغوی وساتي.د غيرې ضروري څانګو قطع کول د ونې د canopy سره مرسته کوي چې د داخل نه خارج ته په يو ډول سپکه شي.په مکمل ډول د قوي څانګو قطع کول د ونې جنسي خواص تنبه کوي مګر په عين حال کې د دې څانګو قسمي قلمي کول د ونې جسمي خواص تنبه کوي.




۳۷شکل:د ميوو په نيولو باندې د شاخبرې کولو تاثير
سرچينه: F.Sandor,RoP- Jalalabad,Afghanistan(2008)

۵-جدول: په مڼو باندې د شاخبرې کولو د بيرته غوټولو تاثير

| د شاخبرې کولو اندازه | نمو | پاڼې | د پاڼې سطح | توليدي برخه | ګل | ميوه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | مڼه | | | | | |
| | cm | No. | Cm | No. | No. | No. |
| زياته (1/3) | 78 | 56 | 789 | 7 | 8 | 0.7 |
| متوسطه(1/2) | 81 | 65 | 872 | 11 | 14 | 2.0 |
| کمه (2/3) | 84 | 77 | 898 | 14 | 33 | 4.0 |
| هيڅ | 66 | 60 | 748 | 13 | 16 | 2.0 |

منبع: Gyurko (1968)

علاوه له دې څخه د شاخبرې کولو پروسه د لښتو او نودو د وضعيت په مهارت سره اداره کولوکې رول لري. د دغې کرنلارې لپاره مختلف ميتودونه موجود دي.

- د لرګي تکيه جوړول يا staking: دا يوه ساختماني حمايه ده چې تقريباً 1.2 m اوږد د لرګي يا بانس څخه جوړ وي.




سرچينه: دا تصوير د Ferenc Sandor په واسطه اخيستل شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بوټيو ته د لرګي يا فلز تکيه جوړول يا Trellising: دا په عمومي ډول د انګورو، granadilla او نورو تاک مانند ميوو د روزلولپاره استعماليږي. دا يو خلاص چوکاټ (latticework) دی د يو حمايي په ډول د تاک او هغې ته ورته ونو لپاره استعماليږي. دا د slat fence يو ډول دی کوم چې په ابتدايي توګه د تاک د محافظې يا حمايې لپاره استعماليږي.trellises د باغ د شپول يو د پخواني ډولونو څخه دی.
- spreading : لښتي د يو پراخ او قوي cloth angle سره د cloth pin د استعمال په واسطه پراخې شي



۳۸شکل: په درست او غلط ډول روزل شوی څانګې
سرچینه:-F.Sandor,RoP Jalalabad,Afghanistan(2008)

- Propping : دا يو stake يا support ساختمان دی چې د څانګې لاندې يا د هغې په مقابل کې ځای په ځای کيږي چې هغه د ماتيدلو يا د خوريدلو څخه وساتي.
- Planting in angle : دا د Bouche-Thomas او Lepage hedge production method نبه پيژندل شوی خاصيت دی. نيالګي د افقي کربنې سره 30-45 درجو په زاويه کرل کيږي.د نيالګي د غوټۍ برخه 10-15 cm پوري په خاوره کې ژور په ځای کيږي.په دې ډول زخه (scion) هم په خاوره کې ريښې کوي او په تدريج سره د rootstock رول خپلوي.
- Tying down : دغه ميتود د Haag او د Palmetta hedge د جوړولو لپاره استعماليږي. دا د trellising method په څير حمايوي ساختمان ايستعمالوي.
- Arching: د دې ميتود لپاره وصفي مثال
- د Lepage hedge څخه عبارت دی.لښتي بيرته شاته تاويږي چې يو قوس جوړوي. پورتني ټول ذکر شوي ميتودونه د دې هدف لپاره استعماليږي چې د ونو generative خواص او د ميوو د توليد وختي شروع تنبه کړي.

## ۲,۵ معمول کنوپي شکلونه (Traditional canopy shapes)

د ميوو د ونو د روزنې لپاره مختلف ميتودونه موجود دي. دغه عملي ميتودونه د ميوو په نوعو، rootstock او د توليد په غوښتل شوی شدت پورې تړاو لري.

### طبعي کنوپي (Natural canopy)



سرچينه: دا تصوير د Ferenc Sandor په واسطه اخيستل شوی دی


طبعي canopy د غوزانو او chestnut (د څيرۍ ونې ميوه چې په محلي ډول ورته پرګی وايي ) لپاره معمولاً استعماليږي. د داسې ونې مونږ پريږدو چې په طبعي ډول څانګې نمو وکړي. يوازې هغه څانګې چې په غلط جهت نمو کوي شاخبري کوو.څيني وخت د لښتو نري کول د ونو د سپکوالي لپاره هم ضروري دی تر څو د canopy داخل ته رڼا تيره شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ونې داخل ته تهویه اسانه کړي. تخریب شوی او ناروغي ښاخونه همېشه باید قطع شي.

## مرکزي رهبري سیستم(Central leader system)



۳۹شکل: د central leader لپاره
شاخبري کول:اول او دوهم کال
سرچینه:-F.Sandor,RoP
Jalalabad,Afghanistan(2008)


دا سیستم د منې، ناک، الوبالو، انځر، بهي او د morello لپاره استعمالیږي. دغه د مېوو ونې د ښاخو ګروپونه جوړوي. دغه سیستم د ونې د مرکزي ښاخو په چاپیر د جنبي ښاخو طبقات جوړوي. په دې پروسه کې لاندې فعالیتونه شامل دي.

- د اولني کال شاخبري کول : د دې سیستم لپاره مونږ یو داسې نیالګي ته ضرورت لرو چې 3-5 جنبي ښانګې ولري. د اولني کال په شاخبري کولو کې مرکزي ښانګې نیمایې یا دریمې برخې ته کموو.که چیرې یوه ونه 4-5 جنبي ښانګې ولري نومونږ پورتنۍ تر ټولو قوي او ښکتنۍ تر ټولو ضعیفه ښانګه قطع کوو. که چیرې ضرورت وي نو مونږ باید جنبي ښانګې د هغوی د خورولو په واسطه په 45 درجې وضعیت کې وساتو.کله چې مونږ ښانګه غوڅوو نو مونږ د هغې زاویه په نظر کې نیسو.که چیرې زاویه د 45 درجو څخه کمه وي نوقلمې د پورتنۍ غوټۍ لپاره کوو. او که چیرې زاویه د 45 درجو څخه لویه وي نو قلمې د ښکته خواته پرتې غوټۍ لپاره کوو. مونږ جنبي ښانګې هغه وخت غوڅوو چې د هغوی اوږدوالی د 60-90 cm څخه زیات شي. دغه ابتدایي ښانګې به د اولنۍ طبقه یا پوړ جوړ کړي. د نودو(shoots) څخه یې قوي ترین دریمې برخې ته غوڅوو.باقي مانده غوټۍ به د ښانګې په اولنۍ څلورمه برخه کې پاتې شي. د shoots د انتخاب په دوران کې مونږ باید چې د ضعیفو په ځای قوي shoots وساتو.



سرچینه: دا تصویر د
Ferenc Sandor په
واسطه اخیستل شوی

- د دوهم کال شاخبري کول : د دوهم کال په دوران کې ونه د قطع شوی برخو ځای ډکوي. نو ځکه دا نا شوني ده چې مونږ دوهم پوړ ساز کړو. زمونږ عمده فعالیت به دا وي چې د اولني پوړ خالي ځای ډک کړو.
- د دریم کال شاخبري کول : په دریم کال کې مونږ د ونې دوهم پوړ یا طبقه جوړو.د دوهم پوړ ښانګې باید د اولني پوړ ښانګو ته په عمودي ډول برابرې شي. د دواړو پوړونو د د مشرو ښانګو (leader branches) تر منځ مسافه باید 50-100 cm وي. دغه leader branch



۴۰شکل: د central leader لپاره
شاخبري کول:دریم او څلورم کال
سرچینه:-F.Sandor,RoP
Jalalabad,Afghanistan(2008)


(c) ketabton.com: The Digital Library



به دومره قطع شي چې 4-5 غوټۍ يې پاتې شي. مونږ بايد ټولې هغه لښتې کومې چې د canopy داخل ته نمو کوي او يا هغه قطع (cross) کوي، قطع شي يا له منځه يوسوو.

☒ د ځلورم او پنځم کال شاخبري کول : د دريم او ځينې وخت د ځلورم پورې جوړيدل د مخکې په څير پروسه تعقيبوي. د ښکتني پوړونو څانګې نسبت د پورتنيو پوړونو څانګو ته پراخه وي.

د څانګو د بار سپکول (thinning) په منظم ډول تر سره شي.




۴۱شکل: غلط او درست heading method
سرچينه: F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

## تغير موندلی ياجذري مرکزي رهبري سيستم ( Modified or Radical Central (LeaderSystem

دغه سيستم معمولاً د منې ، انځر، غوز او غټ سره املوک لپاره استعماليږي.د دې سيستم شروع هم د central leader system په څير ده. تر ټولو نيغ او قوي shoot په Central leader باندې انکشاف کوي. له دريو څخه تر پنځو جنبي څانګو پورې د ابتدايي خوازه ډوله څانګې په ډول انتخابيږي. په دې سيستم کې نوموړې څانګې بايد په ښه ډول يو له بل څخه نه يوازې په افقي ډول (لکه په Central leader system ) بلکې په عمودي ډول هم قرار ورکړل شي. نورې ټولې څانګې بايد دومره قطع شي چې 3-5 غوټۍ يې پاتې شي. وروسته له دې څخه چې co-dominant primary scaffold branches په مکمل ډول انکشاف وکړي نو central leader لرې کوو.

## متحد مرکزي رهبري سيستم (Combined Central leader System)

دغه سيستم د ميوه جاتو د همغو ډولونو لپاره استعماليږي د کوم لپاره چې central leader system استعماليده. دغه سيستم د ونې canopy ته د رڼا په نفوذ کې اسانتيا رامنځ ته کوي.


کله چې دريم پوړ انکشاف وکړي نو central leader به لرې کيږي. په دې ډول د ونې پورتنۍ برخه خلاصه پاتې کيږي او ټول سيستم د central leader system او open center system د ترکيب په ډول ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلاص مرکزي یا د ګلدان شکله سیستم (Open Center or Vase System)

دغه سیستم په زیاته اندازه د شفتالو لپاره استعمالیږي مګر ځیني وخت د بادام، زردالو، الوبالو، انځر، الوچې، نازک شفتالو (nectarine) او لوبخارا ونو لپاره استعمالیږي.





۴۲شکل: د اول کال په دوران کې د کمزورو او قوي ځانګو شاخبري کول
سرچینه:- F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

❖ د ودې اولنی موسم :د ودې د اولني موسم په شروع کې مونږه 3-6 shoots انتخابوو کوم چې پهprimary scaffold branches باندې بدلیږي او پاتې ټولې نیغې نودې(shoots) د 10-15 cm په اوږدوالي غوځوو.او leader branch باید قطع شي.دغه scaffold branches په عمودي ډول یو له بل څخه بیلې شي او د ډډ په چاپیر په مساوي ډول توزیع شي. تر ټولو ښکتنۍ ځانګه باید د ځمکې څخه تقریباً 50-60 cm پورته وي.که چیرې scaffold branches د اوړي د موسم په اول کې په زیاته اندازه نمو وکړي نو دوی باید د 60-75 cm په اوږدوالي قطع شي.Primary scaffold branches باید 30-45 درجو زاویه باندې نمو وکړي.هغه scaffold limbs مه انتخابوئ کوم چې مستقیماً یو د بل له پاسه نموکوي. هغه نیغې غټې ځانګې(limbs) مه پریږدئ کومې چې د یوې حادې زاویې په ډول د ونې سره نښتی وي. ځکه دوی تمایل لري چې د نښتلو په برخه کې کمزوري راشي. همواري یا افقي غټې ځانګې باید د د scaffold limb په ډول پرینښودل شي مګر په هغه صورت کې چې نوی نودې ورڅخه پورته او خارج خواته متوجه وي. که چیرې نیالګی کمزورې وي نو جنبي نودې تر هغه ځایه قطع کیږي چې یوه غوټۍ پاتې شي. او leader shoot لرې کوو. که چیرې نیالګی lateral shoots ونه لري نو central shoot باید تر ټولو قوي غوټۍ (bud) پورې قطع شي.



سرچینه: دا تصویر د Ferenc Sandor په واسطه اخیستل شوی دی

❖ د دوهم او دریم کال شاخبري کول : درې یا څلور primary scaffold branches انتخاب کړئ په هغه صورت کې چې دا کار په تیر اوړي کې نه وي شوی.د دوهم کال په دوران کې مونږ باید 5-7عدده secondary scaffold branches انتخاب کړو چې خالي ځای ډک کړي. Secondary scaffold branches د 60-75 cm په اوږدوالي قطع کړئ چې تر څو د هرې دویمې ځانګې




۴۳شکل: د ضعیفه نیالګیو شاخبري کول
سرچینه:- F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(secondary branch) څخه دوه یا درې عدده دریمي څانګې (tertiary branches) انکشاف وکړي.د هیلې سره سم باید د هرې اولنۍ څانګې څخه دوه څانګې منشا واخلي. د primary scaffold branches قطع کول هغوی ته قوت وربښي چې secondary scaffold branches ور څخه شني شي.

❖ د څلورم او پنځم کال شاخبري کول : د دې مودې په جریان کې نورې 10-12 عدده tertiary scaffold branch انتخابېږي چې ونې ته د ګلدانۍ شکل وروبښي. ټولې پورته خواته په قوي ډول نمو کوونکي څانګې او نودې باید لرې شي.




۴۴شکل: د خلاص کنوپي شکل لپاره شاخبري کول
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

## د میوو د یو ځای کېدلو سیستم (Fruit Bush System)

دغه سیستم د میوو د ټولو ډولونو لپاره مناسب دی. غوره شوی rootstock باید د ټیټ ډول Rootstock (Dwarf type) له جملې څخه وي. د نمو په اولني موسم کې مونږ دوه ځلې د نوی ودې نیمايي قطع کوو. په دوهم کال کې نوموړې پروسه په عین ډول تر هغې تکراروو چې د ونې لوړوالی 1.5-2.0 m ته ورسیږي. دغه ډول د څانګو غوځول د نورو د شنه کېدو سبب ګرځي نو ځکه د هغوی ځینې نودې قطع کوو چې د لمر رڼا ښکتنیو څانګو ته ورسیږي. د راتلونکو کلونو په شاخبري کولو کې د ټولو هغو نودو قطع کول شامل دي چې د ونې د دایمي لوړوالي څخه لوړې وي. دغه کار په کال کې دوه یا درې ځلې سرته رسوو.همدارنګه ، د پسرلي په سر کې چې لښتو لاګلان نه وي نیولي ، ګنې لښتې سپکوو خصوصاً هغه چې د ونې په سر کې وي او ورسره ټول هغه لرګي چې میوه نه نیسي قطع کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳,۵ کڼ کنوپي شکلونه (Intensive canopy shapes)

### Productive Arbor Branch System


دا تر ټولو اول پيژندل شوی intensive canopy shape دی چې د منې لپاره استعماليږي. په دې سيستم کې د ونې روزل دوه يا درې کاله وخت نيسي. د دې وخت په دوران کې leader هر کال نيمايې يا 2/3 برخه قطع کيږي. د leader په چاپير درې پوړونه انکشاف کوي. که چيرې دغه جنبي څانګې بيرته قطع نه شي نود افقي سره نږدې کيږي.نورې څانګې د ونې څخه لرې کيږي. دغه سيستم په هغه ونو ډير ښه کار کوي چې medium-semi dwarf rootstock د ولري.

يادونه : د منې rootstock clones په درې ګروپونو ويشل کيږي : قوي نمو کوونکی (strong growing) ، متوسط قوي وده کوونکی (medium-strong growing) او ضعيف وده کوونکی (weak growing) ډولونه. دوی د (M) سلسله جوړوي. د (M) سلسله د انګلستان په East Malling(M) کې انتخاب شوی ده. په يوه سلسله کې د هر يو clone د پيژندلو لپاره د (M) څخه وروسته هر clone يو نمبر لري.د (MM) سلسله په Merton کې د cross breeding له لياري اختراع شوی ده او د هغوی د عددونو سلسله د 100 او 120 تر منځ ده.د مهوتر ټولو مهم rootstocks عبارت دي له :

- ضعيف وده کوونکي (dwarf) : M27, M9, M26 – لوړوالی: د 1.8-3.0 m تر منځ
- متوسط قوي وده کوونکی: MM106, M7,M4,MM104,M2 – لوړوالی: د 4.0 m شاوخوا کې
- قوي وده کوونکی : MM111, MM109, M10 – لوړوالی : د 4.7-5.5 m تر منځ

### د نرۍ ميلې څانګې سيستم (Slim Arbor Branch System)

دا د منو د ونو لپاره تر ټولو زيات توليد کوونکی موجود سيستم دی. دا په يو هکتار ځمکه کې 2,500 ونو ته اجازه ورکوي. د central shoot د کرلو څخه وروسته بايد ونه د 85-90 cm په اوږدوالي غوڅه شي اوبايد درې يا څلور جنبي shoots ولري. له دې وروسته پورته خواته نمو کوونکي shoots کيدای شي قطع يا لاندې وتړل




۴۵شکل: Slim arbor branch system
سرچينه:- F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)


(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.مونږ باید هر کال لرې او یو د راتلونکوshoots لپاره تغیر کړو. د فعالیتونو پاتې برخه د نوو shoots په انتخاب باندې زور اچوي. کله چې د ونې عمر د پنځه کالو څخه زیات شي نو central leader باید فصل په فصل قطع شي. د دې میتود د استعمال په واسطه د ونې تولید کوونکی عمر 12-15 کالو پورې اوږدیږي.Rootstock باید M-9 یا M-6 وي. دا سیستم حمایوي ساختمان ته ضرورت لري نو ځکه د ونې central leader په یو stake پورې تړو.




۴۲شکل: د نرۍ میلې څانګې شکل لپاره شاخبرې کول




۴۷شکل: د نرۍ میلې څانګې د سیستم پارامترونه
سرچینه: L.Cselotei(1985)

## ۴,۵ د کېږ سیستم (Hedge System)

دغه سیستم په اساسي ډول د منې، ناک، الوبالو، امروت او morello لپاره استعمالیږي. دا سیستم معمولاً یو حمایوي ساختمان لري چې د پایو (stake) او کلکو مزو سره جوړیږي. د ونې د روزلو په دوران کې جنبي څانګې د مزي (wire) سره تړل کیږي.


## د هنګري سیستم (Hungarian Hedge System)

د دې سیستم انکشاف د productive arbor branch system سره زیات ورته والی لري دا یوازې په دوو جهتونو انکشاف کوي.حمایوي ساختمان یې د دوه متره لوړو پایو څخه چې په هر 15 m مسافه کې قرار لري جوړ شوی دی.یو فلزي مزی د پایو یا ستنو د پورتنیو برخو تر منځ غزیدلی وي. د ونو تر منځ مسافه دوه متره وي. په دې سویه کې central leader لرې کیږي. دونو د روزلو په دوران کې باید څانګې په منظم ډول وتړل شي. په اولنیو 4-5 کلونو کې د څانګو تر منځ مسافه 30-40 cm وي. له دې وروسته باید د هغوی ترمنځ مسافه 50-60 cm ته زیاته شي. په دوامدار ډول باید پورته خواته shoots قطع شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




### هاګ يا بيلجين سيستم (Haag or Belgian Hedge System)




۴۸شکل: هاګ کیږ شکل
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

دا سيستم يو حمايوي ساختمان ته ضرورت لري. د ونې د روزلو او هغې ته د شکل ورکولو په دوران کې څانګې په افقي ډول د يو غزيدلي فلزي سيم سره تړو.د انکشاف کوونکو لښتو د سويو تر منځ مسافه 60-80 cm وي.

### پالميتا کيږ سيستم (Palmetta Hedge System)





۴۹شکل: پالمیتا کیږ سیستم
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

Palmetta hedge يو د اولنيو hedge type system د جملې څخه وو.د ونې جنبي څانګې د يو په افقي ډول ثابت سيم سره د 30-45 درجو په زاويه تړل کيږي. د سيمونو(مزو) تر منځ مسافه80-100 cm وي.

### بوچي-توماس کيږ سيستم ( Bouche-Thomas Hedge System)

په دې سيستم کې نيالګي په خاوره کې په 30 درجې زاويه کرل کيږي. دوه نيالګي يو له بل سره مخامخ کيږي او د v تورو ته ورته شکلونو يوه سلسله جوړوي.د پيوند نقطه يې د سطحې نه لاندې د 10-15 cm په ژوروالي ښښيږي کوم scion ته ورتيا ښني چې ريښې وکړي. جنبي څانګې د 30 درجې زاويې په اندازه لاندې خوا ته د سيم پورې او يا يو بل سره تړل کيږي.



۵۰شکل: بوچي-توماس کیږ سیستم
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د (V) شکله سیستم (V) Shaped Hedge System

دا سیستم central leader نه لري. دوه primary scaffold branches د افقي سطحې سره 60 درجې زاویه جوړوي او 150-200 cm اوږدوالی لري. د کېږ لوړوالی 60-80 cm وي. Secondary (productive) څانګې په primary branch باندې یو له بل څخه په 40 cm فاصله کې ځای په ځای کېږي. دغه څانګې کېدای شي په افقي ډول وتړل شي تر څو وختي په تولید شروع وکړي.

## لیپاژ کېږ سیستم (Lepage Hedge System)

دا سیستم د دهقان لپاره یو ډېر دقیق سیستم دی نسبت داسې یو سیستم ته چې د اجرا وړ وي.دا سیستم په هغه باغونوکې مناسب چې د کور دننه وي. ونه د افقي سطحې سره په 30 درجې زاویه کرل کېږي. او جنبي څانګې یې تاوېږي او شاته تړل کېږي او قوسونه جوړوي.



۵۱شکل: لیپاژ کېږ سیستم
سرچینه: L. Cselotei (1985)

## چمن باغ (Meadow Orchard)

دغه ډول سیستم دغلې په څیر میوه جات تولیدوي. په دې سیستم کې د ونو ګڼوالی اعظمي وي چې په یوهکتار ځمکه کې تقریباً د ونو تعداد 70,000 ته رسیږي. د میوو ټولو په دوران کې د میوو سره یو ځای هغه لښتې چې میوه یې نیولې وي غوځیږي. او باغ هر دوه کاله وروسته میوه نیسي. د اولني کال میوه نیوونکو څانګو نمو او د fruiting buds تفریق پذیري د کیمیاوي موادو په واسطه تحریک کیږي. او په دوهم کال ونې میوه نیسي. ځینې وختي میوه نیوونکي د شفتالو cultivars د دې وړتیا لري چې فصل په فصل میوه ونیسي.

۲- جدول: د میوه جاتو د مختلفو انواعو لپاره د توصیه شوي شاخبري کولو او روزلو میتودونه

| د ونې ډول | د روزلو سیستم | د شاخبري کولو اندازه |
|---|---|---|
| بادام | خلاص مرکزي | کم |
| مڼه | پر مختللی سنټرل لیډر، خلاص مرکزي او سنټرل لیډر | متوسط |
| زردالو | خلاص مرکزي | زیات |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| اواکاډو | خلاص مرکزي او طبيعي کنوپي | متوسط |
| الوبالو | خلاص مرکزي | کم |
| چيسټ نټ | طبيعي کنوپي | متوسط |
| سترس | مرکزي ليډر او طبيعي کنوپي | متوسط |
| انځر | خلاص مرکزي او پر مختللی سنټرل ليډر | مختلف |
| امروت | سنټرل ليډر او مولټيپل ليډر | کم |
| مکاډاميا | سنټرل ليډر | کم |
| ام | خلاص مرکزي او مولټيپل ليډر | متوسط |
| موريلو | خلاص مرکزي | کم |
| نيکتارين | خلاص مرکزي | زيات |
| شفتالو | خلاص مرکزي | زيات |
| ناک | پر مختللی سنټرل ليډر، خلاص مرکزي او مولټيپل ليډر | متوسط |
| املوک | پر مختللی سنټرل ليډر | کم |
| الوچه | خلاص مرکزي | متوسط |
| انار | سنټرل ليډر او مولټيپل ليډر | کم |
| الوبخارا | خلاص مرکزي | متوسط |
| بهي | سنټرل ليډر او خلاص مرکزي | کم |
| غوز | پر مختللی سنټرل ليډر | کم |

منبع: F.Sandor, Rop-Jalalabad, Afghanistan (2008)

## ۵,۵ د مېوه لرونکو ونو شاخبري

د مېوه لرونکو ونو شاخبري کول د جوړښت په نسبت په زياته اندازه د توليد او د احتياط سره تړاو لري.

د دغو ونو د شاخبري کولو اساسي اهداف عبارت دي له :

- ❖ د زيات حاصل لاس ته راوړل او ساتل
- ❖ د مېوه جاتو د کيفيت ښه کول
- ❖ د vegetative او productive ودې تر منځ توازن ساتل
- ❖ د canopy داخل ته د ډېرې ښې تهويې اسانول
- ❖ د canopy داخل ته د مناسبې رڼا د توزيع اسانول
- ❖ د حشراتو اوناروغيو کنټرولول

د مېوه لرونکو ونو د شاخبري کولو د پروسې په دوران کې بايد په تيرو کلونو کې د قوي غوځولو څخه مخنيوی وشي ، ځکه چې د تيرو کلونو لرګي د ګلانو غوټۍ لري. له بل پلوه تړول وچ لرګي، ډنډرونه، water shoot داخل خواته يا متقاطع يا يو په بل سوليدونکي نمو کوونکې نودې، ښکته زنګيدونکې ، ګڼې يا ميوه نه نيونکي نودې او حشره لرونکي يا ناروغه نودې بايد شاخبري شي.


د ډېرې ښې او مناسبې رڼا د توزيع په خاطر بايد د ونې پورتنۍ او خارجي برخه شاخبري شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زخو د تولید لپاره باید ونه په زیاته اندازه شاخبري شي تر څو vegetative نمو تحریک شي. په دې ځای کې د لبنتې د سر پریکولو معمول استعمال مناسب دی.

### د اضافي او بارلرونکو نودو شاخبري





۵۲شکل: د ونو څوکې (spur)
سرچینه: **Growing Fruit Trees, Forestry Commission, Harare, Zimbabwe (2003)**

د شپږم ژمي نه وروسته د دې په خاطرچې ونه په مرکزي قسمت کې لوڅه نه شي نو مونږ باید د هغه منډونو څخه چې درې کلن وي دوه ځانګې بیرته قطعکړو. دا کار به د دې سبب شي چې نوې ځانګې به د ونې داخل ته شنې شي. د میوه لرونکو نودو انتخاب او د هغوی شاخبري کول د حاصل په کیفیت او د اندازې په ټاکلو کې قاطع فکتور دی. درې ډوله اساسي میتودونه موجود دي. د دغه درې واړو ډولونو د زده کولو لپاره شفتالو یو ښه ونه ده.

### د شاخبري متناوبه طریقه (Alternate pruning method)

دلته عمده تصور دا دی چې scaffold branches ته نږدې میوه لرونکې نودې انکشاف وکړي. د بې فعالیته (dormant) موسم د شاخبري کولو په دوران کې مونږ دوه نودې پرېږدو: یوه یې د Bearing shoot او بله یې د fallow shoot په نامه یادیږي. مونږ bearing shoot دومره قطع کوو چې درې یا پنځه یا اووه غوټۍ پاتې شي او fallow shoot تر هغې اندازې چې دوه یا درې ښه انکشاف کړې غوټۍ پاتې شي. د ودې په راتلونکې موسم کې مونږ د ټولو هغه نودو ترمنځ انتخاب کوو چې د fallow shoot څخه راشنه شوې وي ( green selection) او مونږ د دوو انتخاب شوو نودو څخه غیر ټولې قطع کوو.



۵۳شکل: د شاخبري کولو عوضي میتود
سرچینه:-F.Sandor,RoP

ددغه دوو د جملې څخه به پورتنۍ نوده new fruit shoot bearing وي او بله به new fallow shoot وي کومه چې د new fruit bearing shoot څخه لاندې قرار لري.


### د ناروغه ځانګو شاخبري(Thread shoot pruning)

دا داسې یو میتود دی چې په تیزۍ او اسانۍ سره یادیږي مګر دا داسې ځای ته ضرورت لري چې د خاورې او اوبو حالت یې ښه او غذایي مواد څخه غني وي.د شاخبري کولو د پروسې په دوران کې ټولې میوه لرونکې نودې تر هغې اندازې پورې قطع کوو چې 10-12 غوټۍ یې پاتې شي (Thread shoot).په راتلونکې کال کې یوازې هغه shoots غوڅوو چې مناسب حالات ونه لري.

مناسب میوه لرونکي shoots به بیا دوباره قطع کیږي.

## ترېوې نودې پورې شاخبرې کول (Pruning to one shoot)

کله چې دغه میتود استعمالوو نو مونږ یوازې یو shoot پرېږدو کوم چې تر هغې اندازې غوځ شوی وي چې د 3-5 غوټۍ یې پاتې وي. په دې ډول به نه یوازې میوه نیونکې غوټۍ میوه ونیسي بلکې د shoot بېخ به تنبه شي چې نور نوي shoot تولید کړي. د راتلونکي کال په دوران کې میوه لرونکې نودې د هغې په بېخ کې د قوي نودې لپاره غوځوو. دغه میتود یوازې د هغه cultivars لپاره د استعمال وړ دی چې د نودې په بېخ کې د ګلانو غوټۍ ولري.



۵۴شکل: ترېوې نودې پورې د شاخبرې میتود
سرچینه: L. Cselotei (1985)

۷-جدول: د میوه جاتو په مختلفو انواعو باندې د میوه نیوونکو غوټیو موقیعت

| د میوې د ونې ډول | اوږدې نودې ( long shoot ) | | لنډې نودې ( short shoot or spur ) | | د spur ژوند موده |
|---|---|---|---|---|---|
| | د fruiting buds موقیعت | | | | |
| | جنبي (اړخي) | نهايي(اخرنی) | جنبي | نهايي | (کلونه) |
| بادام | وړې | ------------ | غټې | ---------- | ۵ |
| منه | وړې | وړې | ---------- | غټې | ۱۰-۸ |
| زردالو | وړې | ------------ | غټې | ---------- | ۳ |
| الوبالو | وړې | ------------ | غټې | ---------- | ۱۲-۱۰ |
| انځر | غټې | ------------ | ---------- | ---------- | -------- |
| Nectarine | غټې | ------------ | وړې | ---------- | ۲-۱ |
| شفتالو | غټې | ------------ | وړې | ---------- | ۲-۱ |
| ناک | وړې | وړې | ---------- | غټې | ۸-۲ |
| املوک | غټې | وړې | ---------- | ---------- | ------- |
| الوچه | وړې | ------------ | ---------- | ---------- | ۸-۲ |
| بهي | غټې | وړې | غټې | ---------- | -------- |
| غوز(تنکی) | وړې | غټې | ---------- | ---------- | ۱۰-۸ |
| غوز(پوخ) | | | وړې | غټې | ۱۰-۸ |

منبع: C. Ingels-P. M. Geisel- C. L. Unruh, University of California, USA (2002)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مېوه دارو ونو د بار سپکول (Thinning fruits)



سرچينه: دا تصوير د Ferenc Sandor په واسطه اخيستل شوی دی

د مېوه جاتو سپکول د مېوو د ښه کيفيت لرلو لپاره يو مهم فعاليت دی. ځينې وخت ونې د مېوو څخه ډکې وي. په دغه حالت کې د غذايي موادو د موجوديت او او د ونې د مېوو د پخولو قابليت تر منځ موازنه موجوده نه وي. په دغه خاصيت کې د ونو مختلف ډولونه فرق لري.شفتالو ، الوچه اومنه زيات سپکولو ته ضرورت لري په داسې حال کې چې ناک اوcitrus سپکولو ته کم ضرورت لري.

د مېوه جاتو سپکول بايد لاندې کړنلاره تعقيب کړي :

- ✓ د مېوه جاتو سپکول بايد د fruit set په اولو شپږو هفتو کې صورت ونيسي.
- ✓ د ونې خوځول به مخکې د سپکولو څخه د غير القاح شوی مېوو په غورځولو کې کومک وکړي
- ✓ د ونې د لومړي ځل سپکولو په دوران کې بايد خراب ( malformed) ، ګنې او جوړه مېوې شاخبري شي
- ✓ په منو کې لنډ ډنډر بايد په موثر ډول شاخبري شي
- ✓ په يو خوشه (وږي ) کې بايد په اعظمي ډول دوه يا درې مېوې پرېښودل شي

۸- جدول: د منې ، شفتالو، الوچې او ناک مېوه جاتو د سپکولو لپاره توصې

| د مېوو د ونې ډولونه | د مېوو سپکول |
|---|---|
| منه | په يو spur کې 2-3 مېوې چې يوله بل څخه مساوي فاصلې ولري پرېږدئ او هغه وخت په سپکولو شروع وکړئ چې مېوې لاندې خواته ځوړندې شي |
| شفتالو | د زړې د ويستلو څخه وروسته مېوې سپکې کړئ. په هر 20-25 cm کې يوه مېوه پرېږدئ |
| الوچه | د زړې د ويستلو څخه وروسته مېوې سپکې کړئ. په هر 5-8 cm کې يوه مېوه پرېږدئ |
| ناک | هغه وخت په سپکولو شروع وکړئ چې مېوې ښکته خواته ځوړندې شي يوه يا دوه مېوې پرېږدئ |

منبع: F.Sandor, Rop-Jalalabad, Afghanistan (2008)

## ۶,۵ د ونې تغذيه

د مېوو ونو ته سره (پارو) ورکول يوه نازکه موضوع ده. د ډېرې سرې ورکول کيدای شي ضررناک واقع شي او سره نه ورکول به ترې ښه وي. ډېر عوامل موجود دي چې د ونې غذايي ضرورت متاثره کوي :

- د ونې عمر: تنکۍ ونې نسبت پخو ونو ته نايتروجن ته زيات ضرورت لري تر څو د ونې وده تنبه کړي.
- د خاورې ډول : د مختلفو خاورو غذايي حالت سره فرق لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ونې د غذايي موادو ساتل : د ګلانو غوټۍ په اساسي ډول نايتروجن د ونې د ذخيرې څخه تر لاسه کوي نه د اچول شوی سرې څخه
- د ونې جسامت
- د ميوې ډول ، cultivar او rootstock
- د ونې د ودې قوت
- د ونې حاصل: د حاصل سره يوه مهمه اندازه غذايي مواد د خاورې څخه لرې کيږي

۹- جدول: د ميوې د 10MT سره د خاورې څخه د لرې شوی غذايي موادو اندازه

| د ميوو د 10MT په واسطه د خاورې څخه د لرې شوې غذايي موادو اندازه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د ميوې ډول | N(Kg) | P2O5(Kg) | K20(Kg) | CaO(Kg) | MgO(Kg) |
| مڼه | 6.0 | 2.0 | 15.0 | 3.4 | 2.5 |
| ناک | 5.5 | 1.5 | 16.0 | 3.4 | 2.0 |
| شفتالو | 13.0 | 6.0 | 28.0 | 4.0 | 2.0 |

منبع: Gautier (1979)



## د اساسي غذايي موادو رول

نايتروجن(Nitrogen):

نايتروجن د ونې وده متاثره کوي. خصوصاً نايتروجن د تنکۍ ونې د انکشاف په دوران کې اهميت لري.همدارنګه د ونې د فزيلوژۍ د توازن په ساتلو کې مرسته کوي. مګر د نايتروجن زياتوالی د غذايي موادو د غيرموازنتوب، د حجرې د ساختمان د ضعيفوالي، او د خوږو د سويې د کموالي سبب ګرځي. د ونې vegetative ودې اندازه له حده زياتيږي په داسې حال کې چې د ګلانو او ميوې اندازه کميږي. د نايتروجن زياتوالی د fire blight, brown rot او powdery mildew انتاناتو د لاره هواروي. د نايتروجن کمښت د ودې د کموالي چې ورسره نودې لنډې او د هغوی رنګ د خاڅ شين څخه تر زيړ پورې تغير کوي.ميوه دې ته تمايل لري چې وړه او وختي ورسيږي.

فاسفورس (Phosphorous):

فاسفورس د ونې د انرژۍ حالت اود ريښو د انکشاف سيستم متاثره کوي. دا د ونې په generative نمو کې کومک کوي.په خاوره کې د فاسفورس د اندازې کموالی د ونې د اوبو اخيستنه زياتوي او د تاو يا خولې کيدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Transpiration) شدت زياتوي. کله چې يې کمښت رامنځ ته شي نو وروستنۍ وده (terminal growth) يې محدوديږي او پاڼې يې نازکه وي چې غير نورمال تياره رنګ لري. پاڼې يې د ساقې سره حاده زاويه جوړوي.

پوتاشيم (Potassium):

پوتاشيم د کاربوهايدريتونو (قندونو) توليد او انتقال متاثره کوي. دا په پاڼو کې د اوبو د تازه والي ساتلو او د پاڼو د سوريو(stomates) د بنديدو او خلاصيدو په وظيفه کې مهم رول لري.د پوتاشيم زياتوالی د نبات په واسطه د کلسيم او مګنيزيم د اخيستلو سره رقابت کوي. د کمښت اعراض يې لومړی د روان موسم د نودو د قاعدوي برخې په پاڼو کې تظاهر کوي. دا د پاڼو د څنډو په وچيدو باندې پيژندل کيږي. په زړي لرونکو ميوه جاتو کې د پاڼې د وچيدو څخه علاوه پورته خواته د پاڼې د اړخيز ګرځوتي کيدو اوchlorosis ممکن تظاهر وکړي.

کلسيم (Calcium):

کلسيم د زړي د تريخيد او corking ( د بلوط د کورنۍ يو ډول چې د مديترانې په سيمه کې شنه کيږي )په کموالي کې يوه حياتي غذا ده.کله يې چې کمښت رامنځ ته شي نو لومړی په تنکيو پاڼو کې مشاهده کيږي په دې ډول چې د پاڼې څنډې پورته خواته پياله ډوله کيږي او د غوړيدلو پاڼو د رګونو(veinal) او د رګونو ترمنځ (interveinal) يو شان chlorosis رامنځ ته کيږي.

مګنيزيم (Magnesium):

مګنيزيم د خاورې په محلول کې د دوه ولانسه کتيون(divalent cation) په ډول موجود وي. دا د فوتوسنتيزس (photosynthesis) په عمليه کې د کلوروفيل د يوې برخې په ډول دخيل دی. دا د هغه انزايم په فعالولو کې برخه اخلي کوم چې د نبات د ودې لپاره ضروري دی. کله يې چې کمښت رامنځ ته شي نو عمده وصفي مشخصه يې دا ده چې د زړو پاڼو په اخر کې شين رنګ تتوالي کوي،چې دغه تتوالی د رګونو ترمنځ د پاڼې د قاعدې او منځنۍ برخې په طرف پرمختګ کوي چې د (herringbone) وصفي منظره غوره کوي.

کوچني مغذي مواد (Micronutrients):

اوسپنه د $Fe^{+++}$ په ډول موجود ده. دا په نبات کې د عضوي مرکباتو يو جز دی. د کلوروفيل په ترکيب کې د اوسپنې برخه اخيستل حتمي دي. د اوسپنې او منګنيز توازن په نبات کې ډير حساس دی، او دغه توازن د

Liebig,s Law of Minimum تعقيبوي. د اوسپنې کمښت په نباتاتو کې ډير عام وي. اولني اعراض يې په ډيروتنکيو پاڼو کې د شين رنګ د لاسه ورکول دي.په داسې حال کې چې د رګونو تر منځ انساج خاڼف شنه، زيړ، يا حتی سپين اوړي او رګونه يې تياره شنه پاتی کيږي. نوی پاڼې ممکن په مکمل ډول بې رنګه وي مګر رګونه وروسته شنه ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منګنيز د $Mn^{++}$ په شکل موجود دی. دا په ميتابوليک فعاليتونو کې د phosphate-transferring enzymes د فعالولو له لياري برخه اخلي، او د هغه انزايم په فعاليتونوکې چې د فوتوسنتيزس،تنفس او نايتروجن د ميتابوليزم عمليې سرته رسوي برخه اخلي. د منګنيزد کمښت اعراض د chlorosis په ډول عمده رګونو تر منځ د پاڼې د څنډې څخه شروع کيږي او د پاڼې د midrib په طرف غزيږي.

زنک (Zink) د $Zn^{++}$ په ډول پيداکيږي. دا د انزايم وظيفې فعالوي او د indoleacetic acid جوړښت کنترولوي کوم چې د ونې وده تنظيموي. دا د زياتو انزايمونو او هارمونونو لکه auxin وظيفوي co-factor دی. Zinc د کاربوهايدرتونو د ميتابوليزم، د پروتين د جوړښت او د internodal elongation (د ساقې د نمو) لپاره ضروري دی. کله يې چې کمښت رامنځ ته شي نو نوی انکشافي پاڼې د نورمال په نسبت وړې وي.
د نودو د اوږديدو کموالی هغوی يو له بل سره نږدې ساتي، چې په نتيجه کې rosette منظره غوره کوي.
مس (Copper) د $Cu^{++}$ په ډول موجود دی. دا په نبات کې د اوسپنې سره په توازن کې وي، انزايمونه فعالوي او د نبات په وده کې برخه اخلي. د مسو کموالی د پروتين په جوړښت کې مداخله کوي. دا معمولاً په ريښو کې تجمع کوي او د نايتروجن د ميتابوليزم يوه برخه ده. د کمښت په صورت کې تنکۍ پاڼې لنډې، بدشکله، نرۍ، او په کمه اندازه اوږدې وي چې موجې څنډې لري. ممکن په نهايې قسمت کې يو څه برخه وچه شي.

بورون (Boron) د $H_3BO_3$ په شکل موجود دی. دا په نبات کې د کاربوهايدريتونو ميتابوليزم تنظيموي. دا د حجروي ديوال د جوړښت، د غشا د بشپړتيا ، د کلسيم د جذب او د قند د translocation لپاره ضروري دی. دا د ګل نيولو، د ګردې توليد، ميوه نيولو، د حجرې انقسام، دهارمون حرکت، د اوبو ارتباط اود نبات نور زيات وظايف متاثره کوي. تنکۍ پاڼې لنډې، بد شکله، نرۍ او په کمه اندازه اوږدې وي چې موجې څنډې لري. ممکن په نهايې قسمت کې يو څه برخه وچه شي.

## مېوه دارو ونو ته سره ورکول (Fertilizing fruit tree)

د خاورې د غذايې مواودو ضرورت تعينول د خاورې په امتحانولو او foliar analysis په واسطه صورت نيسي.

۱۰- جدول: غذايې اندازه (range) چې د منې د پاڼې تجزيه تعبير کړي

| مواد | نشتوالی | کموالی | نورماله اندازه | زياتوالی |
|---|---|---|---|---|
| نايتروجن | <1.60 | <1.80 | 1.80-2.80 | >2.80 |
| فاسفورس | <0.11 | <o.15 | 0.15-0.30 | >0.30 |
| پوتاشيم | <0.70 | <1.20 | 1.20-2.00 | >2.00 |
| کلسيم | <0.31 | <1.30 | 1.30-3.00 | >3.00 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مګنیزیم | <0.03 | <0.20 | 0.20-0.40 | >0.40 |
| | | ppm | | |
| منګنیز | <5 | <22 | 22-140 | >140 |
| اوسپنه | <25 | <40 | 40-100 | >100 |
| مس | <4 | <6 | 6-25 | >25 |
| بورون | <11 | <35 | 35-80 | >80 |
| زنک | <6 | <20 | 20-200 | >200 |

منبع: د پنسلوانیا د مېوه دارو ونو د تولید لارښود کتاب (۲۰۰۸-۲۰۰۹)

## ۱۱- جدول: غذايي اندازه چې د شفتالو او nectarine د پاڼو تجزیه تعبیر کړي

| مواد | نشتوالی | کموالی | نورماله اندازه | زیاتوالی |
|---|---|---|---|---|
| نایتروجن | <2.00 | <2.50 | 2.50-3.40 | >3.40 |
| فاسفورس | <0.10 | <0.15 | 0.15-0.30 | >0.30 |
| پوتاشیم | <1.70 | <2.10 | 2.10-3.00 | >3.00 |
| کلسیم | <0.50 | <1.90 | 1.9-3.50 | >3.50 |
| مګنیزیم | <0.03 | <0.20 | 0.20-0.40 | >0.40 |
| | | ppm | | |
| منګنیز | <10 | <19 | 19-150 | >150 |
| اوسپنه | <40 | <51 | 51-200 | >200 |
| مس | <4 | <6 | 6-25 | >25 |
| بورون | <11 | <25 | 25-50 | >50 |
| زنک | <6 | <20 | 20-200 | >200 |

منبع: د پنسلوانیا د مېوه دارو ونو د تولید لارښود کتاب (۲۰۰۸-۲۰۰۹)

## ۱۲- جدول: غذايي اندازه چې د ناک د پاڼې تجزیه تعبیر کړي

| مواد | نشتوالی | کموالی | نورماله اندازه | زیاتوالی |
|---|---|---|---|---|
| نایتروجن | <1.35 | <1.60 | 1.60-2.40 | >2.40 |
| فاسفورس | <0.15 | <0.18 | 0.18-0.26 | >0.26 |
| پوتاشیم | <0.16 | <0.20 | 0.20-2.00 | >2.00 |
| کلسیم | <0.10 | <1.30 | 1.30-3.00 | >3.00 |
| | | ppm | | |
| مګنیزیم | <0.05 | <0.30 | 0.30-0.60 | >0.60 |
| منګنیز | <5 | <20 | 20-200 | >200 |
| اوسپنه | <40 | <50 | 50-400 | >400 |
| مس | <2 | <6 | 6-25 | >25 |
| بورون | <5 | <35 | 35-80 | >80 |
| زنک | <5 | <20 | 20-200 | >200 |

منبع: د پنسلوانیا د مېوه دارو ونو د تولید لارښود کتاب (۲۰۰۸-۲۰۰۹)

## ۱۳- جدول: غذايي اندازه چې د الوبالو د پاڼو تجزیه تعبیر کړي

| مواد | نشتوالی | کموالی | نورماله اندازه | زیاتوالی |
|---|---|---|---|---|
| نایتروجن | <2.00 | <2.30 | 2.30-3.30 | >3.30 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فاسفورس | <0.20 | <0.23 | 0.23-0.38 | >0.38 |
| پوتاشيم | <0.80 | <1.00 | 1.00-1.90 | >1.90 |
| کلسيم | <0.30 | <1.60 | 1.60-2.60 | >2.60 |
| مګنيزيم | <0.03 | <0.49 | 0.49-0.65 | >0.65 |
| | ppm | | | |
| منګنيز | <5 | <18 | 18-150 | >150 |
| اوسپنه | <40 | <50 | 50-250 | >250 |
| مس | <3 | <6 | 6-25 | >25 |
| بورون | <5 | <39 | 39-80 | >80 |
| زنک | <5 | <20 | 20-200 | >200 |

منبع: د پنسلوانيا د مېوه دارو ونو د توليد لارښود کتاب (۲۰۰۸-۲۰۰۹)

د غذايي موادو د اټکل کولو په وخت کې چې کوم ډول ټېسټ کوو د غذايي موادو په ډول پورې اړه لري

۱۴-جدول: د غذايي موادو لپاره توصیه شوی تجزیه

| د غذايي موادو ډول | توصيه شوی تحليل |
|---|---|
| نايتروجن | خو پاڼيزه يا ځلور پاڼيزه تحليل |
| فاسفورس | يا د خاورې تحليل يا د foliar تحليل |
| پوتاشيم | يا د خاورې تحليل يا د foliar تحليل |
| کلسيم | د خاورې تحليل |
| مګنيزيم | يا د خاورې تحليل يا د foliar تحليل |
| بورون | يا د خاورې تحليل يا د foliar تحليل |
| مس | Foliar تحليل |
| زنک | Foliar تحليل |

منبع: F.Sandor, Rop-Jalalabad, Afghanistan (2008)

د مېوه جاتو ونو ته د سرې ورکولو په صورت کې هميشه ډېراني يا نباتي سرې تطبيق کوو. که چيرې د سرې تطبيق هر کال صورت نيسي نو د ځمکې په هر هکتار کې 10-15 Mt ډېراني سره اچوو. او که چيرې هر دوه کاله پس صورت ونيسي نود ځمکې په هر هکتار کې د سرې غوښتل شوی اندازه د خاورې د حالاتو په نظر کې نيولو سره د 20-45 Mt تر منځ دی.

۱۵- جدول: د مېوې د يو بوټي په سر د سرې توصيه شوې اندازه

| د مېوې د يو بوټي په سر د سرې توصيه شوې اندازه | | |
|---|---|---|
| کال | مقدار پهKg/ ونه | وخت |
| اول | 2.0-2.5 | تر پاڼې وليدو پورې هره مياشت |
| دوهم | 2.5-3.0 | د غوټۍ د چاودلوڅخه تر پاڼې وليدو پورې هره مياشت |
| دريم | 3.0-4.0 | د غوټۍ د چاودلوڅخه تر پاڼې وليدو پورې هره مياشت |
| ځلورم- پنځم | 35.0-40.0 | د غوټۍ چودل- وروسته له شپږو هفتو- وروسته د مېوو تولولو څخه |
| شپږم- اووم | 40.0-50.0 | د غوټۍ چودل- وروسته له شپږو هفتو- وروسته د مېوو تولولو څخه |
| اتم- نهم | 50.0-60.0 | د غوټۍ چودل- وروسته له شپږو هفتو- وروسته د مېوو تولولو څخه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| لسم نه هغه خوا | 55.0-65.0 | د غوټۍ چودل- وروسته له شپږو هفتو- وروسته د مېوو ټولولو څخه |

منبع: F.Sandor, Rop-Jalalabad, Afghanistan (2008)

نایتروجن، فاسفورس،پوتاشیم او مګنیزیم خاورې ته د ځمکې د علاوه کولو په ډول علاوه کیږي،کومه چې د دې غذایي موادو د تطبیق لپاره یوه موثره لاره ده. په پاڼو علاوه کول د بورون،زنک،مس او منګنیز لپاره توصیه کیږي. مګر دوی کیدای شي د ځمکې له لیارې د سرې استعمال په ډول هم تطبیق شي خو په دې صورت کې به د پاملرنې وړ لوړ مقدار ته ضرورت ولري.

د ځوانو ونو لپاره د نایتروجن د تطبیق اندازه په هره ونه تقریباً 130-140gr ده. مونږ هر ډول نایتروجن لرونکې سره تطبیق کولای شو خو مونږ باید د Urea ،Ammonium sulfate او Ammonium nitrate د استعمال څخه خوداري وکړو که چیرې د خاورې د PH اندازه د 6.0 څخه ښکته وي. سره (fertilizer) باید د ګلانو د ویستو څخه 4-6 هفتې مخکې تطبیق شي. مونږ باید د دې حقیقت څخه اګاه وسو چې د دې نایتروجن زیاته اندازه په واقعي ډول د ونو په پاڼو کې تجمع کوي چې د ونې د ذخیرې اندازه زیاتوي. دغه ذخیره به د میوو د نیولو لپاره د نایتروجن ضروري اندازه تهیه کړي.

د فاسفورس تطبیق هغه وخت ضروري دی چې په یو هکتار ځمکه کې په خاوره کې د فاسفورس محتوي د 112Kg څخه کمه وي. د پاڼو د تجزیې د اندازې سویه که په مڼو اوناکونوکې د 0.18% څخه،په شفتالانو او nectarines کې د 0.15% څخه،په الوبالو کې د 0.23% څخه او په الوچو کې د 0.09% څخه کمه وي نو دا د فاسفورس لپاره ضرورت راپه ګوته کوي. فاسفورس د کال په هر وخت کې تطبیق کیدای شي.
همدارنګه پوتاشیم هم د کال په هر وخت کې تطبیق کیدای شي که چیرې د پاڼې تجزیه د پوتاشیم سویه کمه راوښیئ. مونږ کولای شو چې هر ډول پوتاشیم لرونکی سره استعمال کړو.
د کلسیم ضرورت د خاورې د نمونې د امتحان کولو په واسطه تعین کیږي. که ضرورت وي نو کولای شو چې خاورې ته چونه ورعلاوه کړو. د چونې تطبیق باید د کرلو څخه 6-12 میاشتې مخکې صورت ونیسي.

د مګنیزیم د تطبیق ضرورت هغه وخت رامنځ ته کیږي چې د خاورې د مګنیزیم نسبت دپوتاشیم د percentage base saturation ته د 2.0 څخه کم وي(د پاڼې د تجزیې لپاره پورته جدول وګورئ). د تطبیق لپاره د سرې هغه ډول چې Magnesium sulfate ولري توصیه کیږي چې د تطبیق اندازه (dose) یې د یو هکتار ځمکې لپاره د11-11.5Kg ده.
بورون،زنک او مس د foliar application په ډول تطبیقیږي. مس او زنک د استراحت په موسم کې (dormant season) یا وروسته د میوو ټولولو څخه تطبیقیږي. او بورون د کال په هر وخت کې تطبیق کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷,۵ د مېوه دارو ونو خړوبول



سرچینه: دا تصویر د Ferenc Sandor په واسطه اخیستل شوی دی

د میوو دونو د خړوبولو لپاره دري بحراني وختونه موجود دي. اولنی موده يې د باغ د تاسیس څخه وروسته اول دوه کلونه دي. ځوانو ونو لا ريښې ژورې نه وي تنيستي او د اوبو د موجوديت سره ډېر حساس وي. کرونکي وايي چې که چیرې یوه ونه د یونیم کال لپاره ژوندۍ پاتې شي نو د باقي کلونو لپاره به هم ژوندۍ پاتې شي. دوهمه موده د ګلانو نیولو مرحله ده او دریمه موده د میوو نیولو او انکشاف مرحله ده. د اوبو د ضرورت اندازه د باغ د evapotranspiration rate څخه تعین کیږي کوم چې د خوله کولو او تبخیر په واسطه د ضایع شوو اوبو حجم رانبیيي. د دې لپاره چې د تبخیر اندازه (evaporation rate) تعین کړو نو مونږ د یو ستنډرډ وابنه د تعین شوي تبخیر اندازې (measured evaporation rate) څخه استفاده کوو او هغه د یوې خاصې میوې د crop factor سره ضربوو.

ETcrop = Kc x ETo

چیرې چې،

ETcrop= Crop water need

Kc= Crop factor

ETo= Reference crop evapotranspiration

د دې لپاره چې standard grass evaporation rate اندازه کړو نو مونږ د وبنو په پټي کې قایم شوی evaporation pan استعمالوو. Evaporation pans د reference crop evapotranspiration په باره کې درست معلومات برابروي.

۱۲- جدول: د فصل ضریب او د فصلونو اعظمي لوړوالی

| Single (Time-averaged) crop coefficients and maximum height of crops | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د وني ډول | $K_{initial}$ | $K_{mid}$ | $K_{late}$ | لوړوالی په متر (m) |
| د حاره منطقو میوې او ونې | | | | |
| کیله اول کال | 0.50 | 1.10 | 1.00 | 3.0 |
| کیله دوهم کال | 1.00 | 1.20 | 1.10 | 4.0 |
| ککاو (cacao) | 1.00 | 1.05 | 1.05 | 3.0 |
| Coffee bare ground | 0.90 | 0.95 | 0.95 | 2.0-3.0 |
| Coffee weed ground cover | 1.05 | 1.10 | 1.10 | 2.0-3.0 |
| کجوره (date palm) | 0.90 | 0.95 | 0.95 | 8.0 |
| د خرما ونې (palm trees) | 0.95 | 1.00 | 1.00 | 8.0 |
| اناناس bare soil | 0.50 | 0.30 | 0.30 | 0.6-1.2 |
| اناناس grass cover | 0.50 | 0.50 | 0.50 | 0.6-1.2 |
| د ربړ ونه | 0.95 | 1.00 | 1.00 | 10.0 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| Single (Time-averaged) crop coefficients and maximum height of crops | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لوړوالی په متر(m) | $K_{late}$ | $K_{mid}$ | $K_{initial}$ | د ونې ډول |
| 1.5 | 1.00 | 1.00 | 0.95 | چای non-shaded |
| 2.0 | 1.15 | 1.15 | 1.10 | چای shaded |
| | | | | انګور او توتان |
| 1.5 | 0.50 | 1.05 | 0.30 | توتان |
| 2.0 | 0.45 | 0.85 | 0.30 | انګور table |
| 1.5-2.0 | 0.45 | 0.70 | 0.30 | انګور wine |
| 5.0 | 0.85 | 1.05 | 0.30 | Hops |
| | | | | د میوو ونې |
| 5.0 | 0.65 | 0.90 | 0.40 | بادام no ground cover |
| 4.0 | 0.70 | 0.95 | 0.45 | مڼه no cover,frost |
| 4.0 | 0.75 | 0.95 | 0.60 | مڼه no cover,no frost |
| 4.0 | 0.95 | 1.20 | 0.50 | مڼه active cover,frost |
| 4.0 | 0.85 | 1.20 | 0.80 | مڼه active cover,no frost |
| 4.0 | 0.70 | 0.95 | 0.45 | مڼه no cover,frost |
| 4.0 | 0.75 | 0.95 | 0.60 | مڼه no cover,no frost |
| 4.0 | 0.95 | 1.20 | 0.50 | مڼه active cover,frost |
| 4.0 | 0.85 | 1.20 | 0.80 | مڼه active cover,no frost |
| 4.0 | 0.70 | 0.95 | 0.45 | الوبالو no cover, frost |
| 4.0 | 0.75 | 0.95 | 0.60 | الوبالو cover,no frost |
| 4.0 | 0.95 | 1.20 | 0.50 | الوبالو active cover, frost |
| 4.0 | 0.85 | 1.20 | 0.80 | الوبالو active cover,no frost |
| 4.0 | 0.70 | 0.95 | 0.45 | ناک no cover, frost |
| 4.0 | 0.75 | 0.95 | 0.60 | ناک no cover,no frost |
| 4.0 | 0.95 | 1.20 | 0.50 | ناک active cover, frost |
| 4.0 | 0.85 | 1.20 | 0.80 | ناک active cover,no frost |
| 3.0 | 0.65 | 0.90 | 0.45 | زردالو no cover,frost |
| 3.0 | 0.65 | 0.90 | 0.55 | زردالو no cover,no frost |
| 3.0 | 0.90 | 1.15 | 0.50 | زردالو active cover,frost |
| 3.0 | 0.85 | 1.15 | 0.80 | زردالو active cover,no frost |
| 3.0 | 0.65 | 0.90 | 0.45 | شفتالو no cover,frost |
| 3.0 | 0.65 | 0.90 | 0.55 | شفتالو no cover,no frost |
| 3.0 | 0.90 | 1.15 | 0.50 | شفتالو active cover,frost |
| 3.0 | 0.85 | 1.15 | 0.80 | شفتالو active cover,no frost |
| 3.0 | 0.65 | 0.90 | 0.45 | منډکه no cover,frost |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| Single (Time-averaged) crop coefficients and maximum height of crops | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د ونې ډول | $K_{initial}$ | $K_{mid}$ | $Kl_{ate}$ | لوړوالی په متر(m) |
| no cover,no frostمڼه | 0.55 | 0.90 | 0.65 | 3.0 |
| active cover,frostمڼه | 0.50 | 1.15 | 0.90 | 3.0 |
| active cover,no frostمڼه | 0.80 | 1.15 | 0.85 | 3.0 |
| no ground cover امروت | 0.60 | 0.85 | 0.75 | 3.0 |
| Citrus,no cover 70% canopy | 0.70 | 0.65 | 0.70 | 4.0 |
| Citrus,no cover 50% canopy | 0.65 | 0.60 | 0.65 | 3.0 |
| Citrus,no cover 20% canopy | 0.50 | 0.45 | 0.55 | 2.0 |
| Citrus, cover 70% canopy | 0.75 | 0.70 | 0.75 | 4.0 |
| Citrus, cover 50% canopy | 0.80 | 0.80 | 0.80 | 3.0 |
| Citrus, cover 20% canopy | 0.85 | 0.85 | 0.85 | 2.0 |
| جلغوزي ونې | 1.00 | 1.00 | 1.00 | 10.0 |
| کیوي(Kiwi) | 0.40 | 1.05 | 1.05 | 3.0 |
| زیتون | 0.65 | 0.70 | 0.70 | 3.0-5.0 |
| پسته | 0.40 | 1.10 | 0.45 | 3.0-5.0 |
| غوز | 0.50 | 1.10 | 0.65 | 4.0-5.0 |

منبع: B.C. Allen-L.S. Pereira-D. Raes-M. Smith (1988), Crop evapotranspiration-Guidelines for computing crop water requirement, FAO, Rome

د خړوبولو د اوبو ضرورت به مساوي وي د فصل د اوبو دضرورت منفي موثر اورښت

یادونه: د میوو د ونو د خړوبولو په باره کې د زیاتو معلوماتو د حاصلولو لپاره لاندې کتاب وګورئ
The manual of irrigation, Perennial crop support series, Publication No.2008-002-AF




۵۵شکل: د پخې ونې د بخار فیصدي په مقابله په ځمکه د هغې سیورې سره
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

د ځوانو ونو نسبتاً وړه canopy نظر د پخو ونو canopy ته د کم evapotranspiration سبب ګرځي چې دا موږ په ځمکه باندې د canopy د سیورې څخه تخمین کولای شو. د ځوانو ونو evapotranspiration په دې ډول ښودل کیږي:

د پخو ونو د evapotranspiration فیصدي په مقابله د ځواني ونې د سیورې فیصدي په ځمکه باندې. د تخمین لپاره دغه ارتباط په یو ډیاګرام کې ښودل شوی دی.

تولې تازه کرل شوې ونې باید په بشپړه توګه اوبه شي تر څو د root ball په چاپیرخاوره کښیني. د دې لپاره چې د غیرهوازي حالاتو ممانعت وکړو نو خاوره ممکن د اندازې نه زیاته لنده ونه ساتل شي. د ځوانو ونو د خړوبولو لپاره توصیه شوی میتود د basin irrigated method دی. Basin باید په غوړو کې د پخې شوې ډوډۍ (doughnut) په شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library




جوړ شي تر څو اوبه د ډډ د طرف څخه تخلیه شي. د basin اندازه باید په کمه اندازه د کرلو د سوري (planting hole) څخه پراخه وي. په دې ډول به اوبه د ریښو ټولو ساحې ته او لږ د هغې نه وراخوا ته ورسیږي. د ریښو د تاسیس پورې باید basin په هفته کې یو یا دوه ځلې ډک شي.

د میوو د ونو د اوبولو لپاره ډیر عام د خړوبولو سیستمونه د border ، basin ، furrow، sprinkler او micro irrigation سیستمونو څخه عبارت دي. دغه ټول سیستمونه په لاندې کتاب کې واضح او تشریح شوي دي: the manual of Irrigation,Perennial crop support series,Publication No. 2008-002-AFG

یوه ونه د ودې د موسم په دوران کې د درې ځلې اوبو د استعمال د مودو څخه وځي:

- ✓ د اوبو د زیات استعمال موده: دغه مرحله د غوټۍ د چاودلو څخه شروع کیږي او هغه وخت ختمیږي چې دونې د نودو اولنی ګروپ په مکمل ډول انکشاف وکړي. دغه تعریف د زردالو اوشفتالو لپاره د تطبیق وړ نه دی ځکه چې دغه ډول ونې په ټول د جسمي ودې دوره کې نودو ته انکشاف ورکوي. د دغې مرحلې په دوران کې د اوبو ضرورت په تدریجي ډول د canopy د تمایل او د evapotranspiration د حجم د زیاتیدو زیاتیږي سره سم زیاتیږي. په دې مرحله کې دوه مهم د ظاهري شکل جوړیدو مرحله شامل دي: branch development او د ګل او میوې د جوړیدو مرحله. که چیرې په کافي اندازه اوبه موجودې نه وي نو میوو نیول به صورت ونه نیسي.



**۵۲**شکل: د میوو د ونو لپاره د سطحي د اوبولو سیستم
سرچینه: F.Sandor,RoP-Jalalabad,Afghanistan(2008)

- ✓ د اوبو د اساسي استعمال مرحله: دا د ځو پاڼیزه انکشاف مرحله ده. د اوبو استعمال اعظمي اندازې ته رسیږي ځکه چې د foliar حجم زیات وي او حرارت د ودې په ټول موسم کې تر ټولو نه د زیاتې اندازې evapotranspiration سبب ګرځي. په دې مرحله کې د اوبو نشتوالی د میوې انکشاف په زیاته اندازه متاثره کوي او په الوچو،زردالو او شفتالو کې د میوې د غورځیدو سبب ګرځي.
- ✓ د اوبو د کم استعمال موده : په دې مرحله کې د حرارت درجه ښکته کیږي، ورځې لنډې وي او پاڼې وچې او لویږي. نو ځکه د اوبو ضروري اندازه کمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸,۵ د افتونو او ناروغیو اداره کول (Pest and disease management)

د نورو فصلونو په څېر د میوو باغ د حشراتو او ناروغیو په واسطه په زیاته اندازه متاثره کیږي. مناسب کنترول د تولیدي تکنالوژۍ مهمه برخه ده. دغه د کنترول په اندازو کې پنځه کټه ګوري شاملې دي:

زرعي کنترول د کرونکي په سلوک او اداري عادتونو پورې اړه لري. په دغه اندازو کې د مقاوم او صحي کرونکو موادو استعمال،د ساحې په واحد کې د ونو مناسب ګڼوالی، د هرزه بوټو موثر کنترول، د ناروغیو د خپریدو مخنیوی او نور...
بیولوژیکي کنترول د حشراتو او ناروغیود طبعي دښمنانو څخه کار اخلي. چې دا عبارت دی له تیار خوړونکواو ښکاریانو څخه.
میخانیکي کنترول ساده دی لکه د غټو حشراتو وژل او د ونې څخه د مرضي ځانګو لرې کول او سوځول.
په کیمیاوي کنترول کې د حشره وژونکو(insecticides) ، فنګس وژونکو (fungicides) ، واښه وژونکو(herbicides) ، چنجي وژونکو(nematicides) او د نور موادو استعمال دی. کیمیاوي کنترول ممکن خطرناک وي نو ځکه د هغوی استعمال احتیاط او توجه ته اړتیا لري.
قانوني کنترول د قرنطین د قوانینو او د حشراتو او ناروغیو د معیاري وقایې په معنا دی.

**ناروغۍ**

په ناروغیو کې څلور اساسي ګروپونه شامل دي : فنګسي، باکتریاوي، وایروسي ناروغتیاوې او بیولوژیکي بې نظمۍ. د ناروغۍ نوم د هغه agent څخه چې د دوی سبب ګرځي نه دی ایښودل شوی بلکې د هغې د اعراضو څخه ایښودل شوی دی.

د فیګسي ناروغیو ډیر عام اعراض په لاندې ډول دي:

- ☒ ورستیدل: د ونې مختلفې برخې خرابې او ورستیږي. چې د نباتي نسج د نرمیدو او بد بوی په واسطه مشخص کیږي.
- ☒ د پاڼو داغونه: مختلف رنګه داغونه چې اندازه یې زیاتیدونکي وي په پاڼه کې را ښکاره کیږي او د یو زیړ سرحد په واسطه احاطه شوي وي.
- ☒ زنګ: زنګ یا فلزي رقمه داغونه د پاڼو په لاندینیو مخونو کې موجود وي.
- ☒ پتری(scab) : دا د زیړ څخه تر تور پورې رنګه داغونه دي چې د پاڼو په لاندینیو مخونو کې موجود وي. دغه داغونه په میوو کې هم راښکاره کیږي چې په هغې کې د درزونو او کلکیدو سبب ګرځي.
- ☒ Powdery mildew(خاکسترک): دا د پاڼو په پورتنۍ سطحه روښانه رنګ پوډر دي.
- ☒ Downy mildew: دا د پاڼو په لاندینۍ سطحه خړ رنګه نرمه نمو ده چې په پورتنۍ سطحه کې د مړو داغونو(dead spots) سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ☒ Damping-off: د نیالګي ناروغي. په دې کې د ډډ بیخ وچیږي او نیالګی راولیږي.

د باکتریاوي ناروغیو ډیر عام اعراض په لاندې ډول دي:

- ☒ شوریدنه(canker) : پړسوبونه(bumps) او شوریدنه په څانګو کې رابښکاره کیږي او د ونې په پوستکي باندې د ژاولو د تویدلو سبب کیږي. دا معمولاً په پاڼو باندې د وړو نصواري رنګه داغونو سره یو ځای وي.
- ☒ سوځیدنه: دا په پاڼو باندې نصواري رنګه داغونه او ساحې دي چې د پاڼې د څنډې څخه د داخل په لور وده کوي.
- ☒ داغونه(spots) : دا په پاڼو باندې روښانه رنګ ساحې دي چې وروسته په تور رنګ اوړي. په میوو کې دغه داغونه وچیږي او چوي.

د وایروسي ناروغیو ډیر عام اعراض په لاندې ډول دي:

- موزایک(mosaic) : په دې کې پاڼې په وړو زیړو او شنو ټوټو باندې پوښل شوي وي چې د dwarf syndrome سره یو ځای موجود وي.
- Woodiness : په دې کې پاڼې وړې او تاوې شوي وي چې ورسره په هغوی باندې روښانه رنګ ټوکرونه موجود وي. د میوې په پوستکي باندې لرګین ټوکرونه چوي. میوه وړه او بې رقمه وي.
- Greening : په دې کې پاڼې وړې او زیړې وي چې شنه رګونه لري او د dwarf syndrome سره ملګری وي. پاڼې او میوې ولیږي. تنکۍ نودې بیرته مري. میوه نه پخیږي او خامه او بې رقمه پاتې کیږي.
- حلقوي داغونه(ring spots) : په دې کې په میوه باندې شنې او نصواري رنګه حلقې وي. د ونې وده په ټپه ودریږي.

## افتونه (Pests)

حیواني افت دي چې د نباتاتو څخه تغذیه کیږي. دوی ممکن مرغان، تی لرونکي، حشرات، چنجیان او نور وي. چنجیان د ونې ریښې د حملې لاندې نیسي. حشرات د ونې په ټولو برخو باندې حمله کوي. معمولاً د ځوانې حشرې (nymph) لاروا د تخریب سبب ګرځي. حشرات په دوه ډوله د تخریب سبب کیږي: یو د ژولو (chewing) او بل د رولو(sucking) په واسطه.

ډیر عام د پاڼو ژوونکي حشرات د ګونګټو(beetles) ، ملخانو(grasshoppers)، پیشکو(caterpillars) څخه، د میوو ژوونکي حشرات د bollworms ، fruit fly larvae او codling moths څخه، د ریښو او لرګي ژوونکي حشرات د وینو او wood borers څخه، د ډډ ژوونکې حشره د cutworms څخه، د زړو ژوونکې حشره د weevils څخه او د ګلانو ژوونکې حشره د CMR beetles څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر عام رودونکي حشرات عبارت دي له: aphids د پاڼو، mites ، stinkbugs، thrips او red spider mites د پاڼو او میوو، scale insects د میوو، نودو او څانګو او fruit-piercing moths د میوو.

## د افتونو او ناروغیو مخنیوی

د pest او ناروغۍ د کنترول غوره لار د وقایوي تدابیرو څخه کار اخیستل دي مخکې له دې څخه چې نه تلافي کېدونکي تخریبات رامنځ ته شي. په دغه میتودونو کې په ضروري ډول کیمیاوي مواد نه استعمالیږي.
نورې ډېرې لارې موجودې دي چې د ممکنه تخریباتو څخه مخنیوی وکړو.
د pests او ناروغیو کنترول د pest-disease free planting material د استعمال سره شروع کیږي. نیالګي باید صحتمند او قوي وي. هغه نیالګي مه اخلئ چې اصل يې معلوم نه وي او یا هم تصدیق نامه ونه لري.

دهقان باید ونې په ښه انکشاف کې وساتي چې په منظم ډول عضوي مواد او د ونو پاڼې تطبیق شي. د اوبو مناسبه اداره کوونه د نوموړې پروسې يوه برخه ده.

د کیمیاوي کنترول په عوض نور میتودونه استعمال کړئ چیرې چې ممکن وي. په دې ډول به د pests طبعي دښمنان په موثر ډول د نبات خوړونکو حشراتو تر منځ راشي. د کیمیاوي موادو استعمال همدارنګه د مفیدو حشرو د مړینې سبب ګرځي.

اسباب لکه د شاخبري کولو الات باید معمولاً پاک او ضدعفوني (disinfected) شي. دغه الات ممکن د بوټي ونې څخه بلې ته ناروغي انتقال کړي. دا ډېره مهمه ده چې هره ورځ د pests او ناروغیو موجودیت وکتل شي. که چیرې ضروري وي نو کیمیاوي مواد تطبیق باید دوه یا درې ځلې تکرار شي.

د اوبو فشار او د حرارت زیاتوالی په باغ کې د کوتي د ښکته کیدو او د پاڼو د غورځیدو سره ارتباط لري. د ونو د حد نه د زیاتو اوبه کیدو د مخنیوي په خاطر باید اوبه په مناسب ډول اداره شي.

هرزه واښه ونه کمزوری کوي ځکه چې دوی د ونې سره د اوبو او غذايي موادو په اخیستلو کې رقابت کوي. همدارنګه دوی حشراتو او ناروغیو ته ځای ورکوي. باغ او د ونې د ډډ په چاپیر ساحه باید پاکه او د وښو څخه خالي وي. واښه باید مخکې د تخم د پوخوالي څخه کنترول شي. د بتو او قازونو ساتل يو غوره انتخاب دی.

میخانیکي کنترول هم د باغ څخه د حشراتو او ناروغیو په پاک ساتلو کې کومک کوي. نباتي سپږی او mealy bug د اوبو د قوي شیندلو او یا صابون باندې وینځلو سره د پاڼو څخه لری کولای شو. غټ حشرات باید ټول او له منځه یوړل شي. د او بو په یوه کاسه کې د پارافین څراغ د حشراتو د نیولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره يوه موثره لومه ده. غورځېدلې ميوې د حشراتو د هګيو لرونکې وي. د ميوو د ونو د لاندې د دغه ميوو ښښول د هګيو د له منځه تلو سبب ګرځي.
ځينې زرعي-تخنيکي (agro-technical) تدابير د افاتو او ناروغيو د کنترول لپاره موجود دي. د ډير ګڼ باغ موجوديت د تهويې د کموالي او د رطوبت د زياتوالی سبب ګرځي کوم چې د فنګسي ناروغيو د رامنځ ته کيدو سبب ګرځي. د دغه مشکل د مخنيوي په خاطر د ونو تر منځ کافي مسافه پريږدو او په مناسب ډول شاخبري کوو کوم چې د ونو د شاخونو تاج ته د هوا په تهويې او د رڼا په توزيع کې کومک کوي. Intercropping د ونو په منځ کې د سبو يا غلو دانو کرنه په معنا دی. د يو نوعې زيات نفوس کرل د pests د نفوس د زياتيدو سبب ګرځي کوم چې په يو اپيډمي(د ناروغۍ خپريدنه) بدليدای شي. د intercropping په واسطه کولای شوچې د pests نفوس کنترول کړو او هغوی مجبور کړو چې د خوراک لپاره بلې منبع ته مراجعه وکړي.

تر ټولو مشکل کار د وايروسي ناروغيو کنترول دی. په وايرس اخته ونې علاج نه لري. ونه بايد لرې او له مينځه يووړل شي. د کرلو مواد بايد د وايرس څخه پاک وي. چيرې چې ممکن وي بايد دهقان داسې نيالګي وکري چې قلمه يې د يو وايرس ضد rootstock سره پيوند شوی وی. د وايرس ناقلين لکه aphids او سپين مچان بايد د کيمياوي موادو د استعمال يا غير د هغې څخه کنترول شي. سره د دې چې د سپين مچانو کنترول ډير مشکل شوی دی ځکه چې دې حشرې د زياتو پيژندل شوو حشره کش موادو سره مقاوت پيداکړی دی.
د کيمياوي کنترول په باره کې زياته مناقشه روانه ده. د کيمياوي موادو زيات استعمال د محيط لپاره غټ خطر لري(د اوبو چټلتيا او نور) او همدارنګه هغو ته هم خطر لري چې ميوه استعمالوي لکه مرغان، حيوانات او انسانان. او د کيمياوي موادو په وار وار استعمال سره حشرات د حشره کش موادو په مقابل کې مقاومت پيداکوي. مګر لکه د دوا په شان د کيمياوي موادو استعمال د pests د وژلو لپاره موثره لار ده. د کيمياوي موادو د استعمال بايد لاندې مفکورې تعقيب شي:
- د ناروغيو اوpests د کنترول لپاره بايد کيمياوي مواد اخرنی انتخاب او استعمال يې معمول نه وي.

- د ځينې وقايوي حشره کش موادو استعمال د مناسب تحفظي تدابيرو سره ښه ګټل شوي دي. د مثال په ډول د غيرفعال ونو سپری کول په کيمياوي موادو او غوړو سره د pests تعداد کموي مخکې له دې څخه چې د ودې موسم پيل شي. کله چې د حشره کش او غوړو سره فنګس کش (fungicide) علاوه شي نو دا به د ژمي په ټول اوږدوالي کې فنګسونه او د باکترياوو سپورونه له منځه ويسي. دا يو عام رواج دی چې دهقانان وقايوي سپری کول د ونې په يو خاص انکشافي مرحله کې استعمالوي. دوی هميشه يو وارې سپری د ګل پاڼو د وليدو په وخت کې او بل د هغې څخه دوه هفتې وروسته تطبيقوي.
- د کيمياوي موادو د استعمال لپاره مناسبه لاره غوره کړئ. څلور طريقې موجودي دي. د کيمياوي موادو سپری کول بايد د پاڼو او ميوه په ټولو برخو صورت ونيسي. حشره کش د غذا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ګډېږي چې دغه مېتود د pesticide bait په نامه يادېږي. د fumigants استعمال په خاوره کې pests او ناروغۍ له منځه وړي.

## ۹,۵ د مېوو راټولول (Harvesting fruit)

د مېوې په توليد کې د مېوو د ټولولو کار ډېرو کار کوونکو ته ضرورت لري که چيرې دغه ټولونه فصل په فصل صورت ونيسي. د مېوو د ټولو لپاره د ماشينري استعمال يوازې د مېوو د يو څو ډولونو لپاره مناسب دي.

د مېوو ټولولو وخت په زياتې اندازې پورې د مېوې د استعمال په هدف پورې تړلی دی. د مېوو د ټولولو د وخت لپاره اساسي ذهنيت دا دی چې د مېوې د پوخوالي مرحله اندازه کړو. د وخت د تخمين لپاره څيني ميتودونه وجود لري.

د ورځو د شمارلو ميتود (the day counting method) د ګلانو نيولو او د پوخوالي د مرحلې تر منځ د ورځو د شمارلو څخه کيږي. د مثال په ډول د Jonathan apple په صورت کې د ورځو تعداد د 130-150 دی.

بل ډير درست ميتود د T-stage method څخه عبارت دی. T-stage د مېوې انکشافي مرحله ده کله چې stem او shoulder of the fruit pedicle لاتر اوسه يو له بل سره په قايمه زاويه وي. کله چې pedicle په مېوه کې ننوځي نو په دې وخت کې مېوه د ټولولو لپاره تياره وي. په څينو حالاتو کې د مېوې د پوخوالي د هغې رنګ او کلکوالي څخه معلومېږي.

همدارنګه د iodine test د مېوو د ټولولو د وخت د تعين لپاره هم اکثراً استعماليږي. کله چې د مېوې له پاسه د Potassium-iodine څاڅکی توی شي نو د هغې په رنګ کې تغير راځي. خومره چې د مېوې رنګ اسماني رنګه وي په هماغه اندازه به مېوه پخه وي دا پيښه د نشايستې (starch) بدليدل په sugar څخه رامنځ ته کيږي.

نه يوازې د مختلفو مېوو د ټولولو وخت فرق لري بلکې د هغوی د راټولولو وارونه هم فرق لري.

۱۷- جدول: د عين مودې په دوران کې د مېوو د ټولولو تعداد

| د مېوې ډول | د مېوو ديو شان ټولولو په موده کې د مېوو د غونډولو تعداد | | |
|---|---|---|---|
| | په اول ځل | دوهم او دريم ځل | له دريم وار څخه زيات |
| مڼه | څيني ډولونه | څيني ډولونه | |
| ناک | څيني ډولونه | څيني ډولونه | |
| بهي | ټول ډولونه | | |
| الوبالو | وختي پخيدونکی | وروسته پخيدونکی | |
| Morello | وروسته پخيدونکی | | |
| الوچه | ټول ډولونه | | |
| بادام | ټول ډولونه | | |
| شفتالو | وروسته پخيدونکی | وختي پخيدونکی | وختي پخيدونکی |
| زردالو | وروسته پخيدونکی | وختي پخيدونکی | |
| غوز | ټول ډولونه | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| Hazel nut | ټول ډولونه | | |
| Chest nut | | ټول ډولونه | |

منبع: Gyuro (1978)

د میوو ټولولو څخه وروسته میوه جات اول د کیفیت په نظر کې نیولو سره انتخابیږي او په تعقیب یې د جسامت په نظر کې نیولو سره انتخابیږي. په اخره کې غوره شوي میوې په مناسب ډول ترل (packed) کیږي او ذخیره کیږي. د ذخیره کولو د سیستم دوه اساسي ډولونه موجود دي: یو یې غیر تغیر موندونکی airspace سیستم او بل یې تنظیم شوی محیطي سیستم.

۱۸- جدول: د میوو د ذخیره کولو لپاره پارامترونه

| د میوې ډولونه | ثابت: حرارت | ثابت: رطوبت | تنظیم شوی: حرارت | تنظیم شوی: رطوبت | $O_2$ | $CO_2$ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | C° | % | C° | % | % | % |
| منه | 2.0 | 90 | 2.0-2.5 | 92 | 4-5 | 1.0-1.5 |
| بهي | 1.0 | 92 | 1.0-1.5 | 95-96 | 3-4 | 2.0-2.4 |
| ناک | 1.0 | 90 | 1.0-1.5 | 92 | 3-4 | 2.0-3.0 |
| Medlar | 0.5-0.0 | 90-91 | 0.0 | 02 | 5-6 | 2.0-3.0 |
| الوبالو | 0.0-1.0 | 85-90 | 0.5-1.0 | 90 | 6-8 | 1.0-3.0 |
| Morello | | | | | | |
| شفتالو | | | | | | |
| زردالو | | | | | | |
| الوچه | | | | | | |
| الوبخارا | | | | | | |
| Strawberry | 0.0-2.0 | 85-90 | 1.0 | 90 | 8-10 | 1.0-3.0 |
| Raspberry | | | | | | |
| Red currant | | | | | | |
| Black currant | | | | | | |
| Mulberry | | | | | | |
| Blackberry | | | | | | |

منبع: Sass-Gyuro (1980)



سرچینه: دا تصویر د Ferenc Sandor په واسطه اخیستل شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶. د باغ د جوړولو خلاصه جدول (Summary table of orchard establishment)

۱۹-جدول: د میوه جاتو د مختلفو نوعو د کرلو تر منځ مسافه

| نوعی (species) | کتارونه او د ونو تر منځ مسافه په متر | Unit/Ha |
|---|---|---|
| مڼه | 2 X 4 | 1,250 |
| | 5 X 5 | 400 |
| | 7 X 4 | 358 |
| | 6 X 4 | 417 |
| | 5 X 3 | 667 |
| ناک | 5 X 3 | 667 |
| | 5 X 4 | 500 |
| | 5 X 5 | 400 |
| الوبالو | 8 X 6 | 209 |
| موریلو | 7 X 5 | 286 |
| | 8 X 5 | 250 |
| | 5 X 5 | 400 |
| | 5 X 4 | 500 |
| الوچه | 8 X 5 | 250 |
| زردالو | 6 X 6 | 277 |
| | 8 X 5 | 250 |
| | 7 X 5 | 286 |
| شفتالو | 5 X 5 | 400 |
| | 6 X 4 | 417 |
| بادام | 5 X 5 | 400 |
| | 6 X 4 | 417 |
| ستروس | 6 X 5 | 334 |
| | 6 X 6 | 277 |
| اواکاډو | 10 X 10 | 100 |
| امروت | 6 X 6 | 277 |
| | 6 X 5 | 334 |
| | 6 X 4 | 417 |
| ام | 10 X 10 | 100 |
| | 8 X 8 | 156 |

منبع: F.Sandor, Rop-Jalalabad, Afghanistan (2008)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷. لمړۍ ضمیمه_د اصطلاحاتو قاموس(glossary)

Bare root : دا بوزغلی(nursery stock) دی چې په هغې کې د ونې د ریښو په چاپېر خاوره موجود نه وي.

**Budding** : دا د یوې پاڼې لرونکې غوټۍ(scion) څخه جوړ دی چې د نبنتي پوستکي او د لرګي د یو ټوټې سره یو ځای وي یا نه وي چې د خاصو تخنیکونو په واسطه د stock سره پیوند کیږي.

**Bud stick** :د د روان موسم د نودې نمو ده کوم چې د budding اهدافو لپاره غوټۍ (buds) لري.

**Callus** : د وظیفوي حجراتو(parenchyma cells) یوه کتله ده کوم چې د انساجو د regeneration وړتیا لري. دا د زخمي شوي نسج څخه او یا د هغه په چاپیر وده کوي.

**Cambium** : دا د لرګي د نسج او پوستکي تر منځ د حجراتو یوه واحده طبقه ده چې خارج خوا ته د phloem حجرات تولیدوي او داخل خوا ته xylem (لرګین نسج) ته انکشاف ورکوي.

**Canopy** : د ونې هغه برخه چې د پاڼو او وړو منډکو(twigs) څخه تشکیل شوی ده.

**Clone** : یو خاص cultivar چې په غیر زوجي ډول تکثر کوي (vegetative propagation).

**Crown** : د ونې هغه برخې چې د ځمکې څخه پورته وي چې ډډ په کې شامل وي. په root crown کې د ځمکې نه لاندې ډډ او هغه غټې ریښې چې د هغې څخه منشا اخلي.

**Cultivar** : دا هغه variety ده کوم چې د کنترول شوي cross کولو څخه د کرل شوو(cultivated) حالاتو لاندې منشا اخیستی وه.

**Dormant stage** : هغه مرحله ده چې ونه په فعال ډول وده نه کوي.

**Foliar analysis** : دا هغه پروسه ده چې په هغې کې د ونې پاڼې وچې، میده او په کیمیاوي ډول د غذايي موادو د محتوي لپاره تجزیه کیږي.

**Graftage** : غیرزوجي تکثر دی چې په هغې کې د غوټۍ او پیوند کولو تخنیکونه استعمالیږي.

**Grafting** : دا مختلف تخنیکونه دي چې په هغې کې د stem یوه ټوټه چې غوټۍ (buds or scion) ورسره
وي د stock سره پیوند کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Heading** : د نودي يا څانګې يوه برخه لرى کول چې په پاتې برخه کې يې يوازې غوټۍ يا وړوکې منډکى (twig) پاتې شي چې په نتيجه کې د څانګو په تعداد کې زياتوالى رامنځ ته شي.

**Inter-node** : د ساقې دوو غوټو(nodes) ترمنځ برخې ته وايې.

**Inter-stem or inter-stock** : دا د ډډ(trunk) يوه برخه ده چې د rootstock او د scion cultivar تر منځ قرار لري.

**Latent bud** : يوه غيرفعاله غوټۍ چې د دوه کاله څخه زيات عمر ولري مګر هر کال يې کافي اندازه نمو کړې وي په دې ډول چې د ودې قسمت يې د پوستکي سطحې سره نږدې پاتې وي.

**Lateral** : يوه دويمي څانګه چې د scaffold limbs څخه راشنه کيږي.

**Leader** : يوه متبارزه نيغه څانګه ده. Central leader ډډ (trunk) يا تنې ته وايې چې د رينښې څخه د ونې تر پورتنۍ برخې پورې غزيدلې وي.

**Primary scaffold limb** : دا د ونې د لويو څانګو څخه يوه ده چې د ونې د ډډ څخه راولاړيږي.

**Rootstock** : دا د پيوند شوى يا غوټۍ شوى(budded) يوه برخه ده کوم چې د ونې رينښې جوړوي.

**Sapling** : هغه ونې ته ويل کيږي چې د اصلي ونې د vegetative برخې څخه يې په غيرزوجي ډول وده کړې وي ( د پيوند په ډول ).

**Scaffold** : دا يوه اساسي څانګه ده چې د open center tree ساختمان جوړوي.

**Scion** : د منډکى يو کوچنى قسمت يا غوټۍ د وصل غوخ شوى پوشتکي سره چې په stock کې ځاى شوى وي.

**Seedling**: هغه ونې ته وايې وايې د زړي څخه شنه شوى وي. يو کال عمر او يو متر اوږدوالې ولري.

**Shoot** : دا هغه نمو ده چې د ودې په روان موسم کې يې د يوې غوټۍ څخه تبارز کړى وي.

**Spur** : دا يو لنډ منډکى دى چې د ګلانو د غوټيو او د ميوو د روزلو لپاره د ميوو په زياتو نوعو کې خاص شوى وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Stock** : دا يوې ونې يا يوې ريښې ته ويل کيږي چې د هغې سره يو scion پيوند يا غوټۍ (budded) شوی وي.

**Sucker** : دا هغه نوده (shoot) ده چې د ونې د تاج(crown) يا ريښې څخه د پيوند د ځای او يا سطحې څخه ښکته نمو کوي.

**Watersprout** : دا د روان موسم يوه قوي نوده ده چې د وړې څانګې يا د primary scaffold branch څخه نمو کوي.

## ۸. دوهمه ضميمه – جدولونه

۱- جدول: د ميوو د باغ د تاسيس اساسي مرحلې او د ژوند دوره..................
۲- جدول: د شاتو د مچيو په واسطه د القاح لپاره سپارښتنې........................
۳- جدول: د ميوو د ونې او pollinizer تر منځ د اعظمي فاصلې پريښودل.....
۴- جدول: د ميوو د ځينو نوعو د القاح خاصيتونه...................................
۵- جدول: په مڼو باندې د شاخبري کولو د cut-back تاثير............................
۶- جدول: د ميوو د مختلفو نوعو لپاره د شاخبري کولو او د روزلو توصيه شوي ميتودونه...........
۷- جدول: د ميوو په مختلفو نوعو کې د fruiting buds موقيعت.......................
۸- جدول: د مڼې، شفتالو، الوچې او ناک د بار سپکولو لپاره سپارښتنې.............................
۹-جدول: د ميوې د 10MT حاصل سره د خاورې څخه د لرې شوي غذايي موادو مقدار......
۱۰- جدول: د مڼې د پاڼې د تجزيې د تعبير لپاره غذايي اندازه (range)..........................
۱۱- جدول: د شفتالو او nectarine د پاڼو د تجزيې د تعبير لپاره غذايي اندازه................
۱۲- جدول: د ناک د پاڼې د تجزيې د تعبير لپاره غذايي اندازه.......................................
۱۳- جدول: د الوبالود پاڼې د تجزيې د تعبير لپاره غذايي اندازه.......................................
۱۴- جدول: د غذايي موادو د محتوي لپاره توصيه شوی تحليل.........................................
۱۵- جدول: د ميوې د يوې ونې لپاره د سرې مقدار......................................................
۱۶- جدول: د فصل اعظمي لوړوالی او crop coefficients.......................................
۱۷- جدول: په عين موده کې د ميوو ټولولو تعداد..................................................
۱۸- جدول: د ميوو د ذخيره کولو لپاره parameters...............................................
۱۹- جدول: د ميوو د مختلفو نوعو تر منځ د کرلو فاصله..........................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹. دریمه ضمیمه – شکلونه

۱- شکل: د میوو د نوعو گروپ بندي......................................................................
۲- شکل: د میوو د ونې د ژوند او موسم دوره (Cselotei-Nyujto-Csaki, 1985)
۳- شکل: د القاح د میتودونو خلاصه جدول(Source: F.Sandor,RoP- Jalalabad, 2008)...
۴- شکل: د ساحې د انتخاب لپاره حالات..................................................................
۵- شکل: Graded bund..........................................................................................
۶- شکل: تخلیوي کانال..........................................................................................
۷- شکل: Natural shelter belt...............................................................................
۸- شکل: single tree line strip...............................................................................
۹- شکل: Wind break............................................................................................
۱۰- شکل: د مستقیمې کرښې جوړول............................................................................
۱۱- شکل: د قایمې زاویې جوړول(3-4-5 method).......................................................
۱۲- شکل: په base line باندې د عمود جوړول...............................................................
۱۳- شکل: په میدانونو او ټوټو باندې د ساحې ویشل......................................................
۱۴- شکل: Bonding rod.............................................................................................
۱۵- شکل: N-frame....................................................................................................
۱۶- شکل: د باغ نقشه.................................................................................................
۱۷- شکل: د باغ د نقشې لپاره مثلثي نمونه...................................................................
۱۸- شکل: د باغ د نقشې لپاره مربعي نمونه...................................................................
۱۹- شکل: د باغ د نقشې لپاره مستطیلي نمونه...............................................................
۲۰- شکل: د باغ د نقشې لپاره Quicunx نمونه...............................................................
۲۱- شکل: د باغ د نقشې لپاره Hedgerow نمونه...........................................................
۲۲- شکل: د باغ د نقشې لپاره Equilateral نمونه.........................................................
۲۳- شکل: د لوخو ریښو د نیالگې کرل.........................................................................
۲۴- شکل: د کرل شوی ونې په چاپیر basin ..........................................................
۲۵- شکل: د نیالگې د کیفیت لپاره معیار.......................................................................
۲۶- شکل: Heading planted sapling.............................................................................
۲۷- شکل: د اړخیز څانگو سره د نیالگي شاخبري کول...................................................
۲۸- شکل: د لمر د سوځولو څخه مخنیوی.....................................................................
۲۹- شکل: د self-fertile نوعو cultivar کیدای شي چې په منتشر ډول وکرل شي(A).
د الوبالو بادام، morello اوblack currant د ونې په یو بل پسې قطارونو
کې کرل کیږي(B)...............................................................................................
۳۰- شکل: د الوبالو بادام، morello اوcultivar, black currant په یو بل پسې قطارونو کې
کرل کیږي (C). د الوبالو بادام، morello او بهي,cultivar په مخلوط ډول په قطارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کرل کیږي (D)........................................................................................
۳۱- شکل: د منې، ناک،شفتالو، زردالو اود الوچوcultivars ممکن په بلاکونو کې وکرل شي...
۳۲- شکل: د منو اوناک cultivars کیدای شي په بلاکونو کې وکرل شي او د بلاکونو تر منځ د Pollenizer cultivars یو یو قطار وکرل شي(F).....................................................
۳۳- شکل: درست او غلط شاخبري کول.......................................................................
۳۴- شکل: په درست او غلط ډول د څانګو لرې کول..........................................................
۳۵- شکل: د څانګو په مختلفو وضعیتونو کې جنبي نودې کول.................................................
۳۶- شکل: د څانګو په مختلفو وضعیتونو کې د میوو نیول.....................................................
۳۷- شکل: په میوو نیولو باندې د شاخبري کولو اثر..............................................................
۳۸- شکل: په غلط او درست ډول روزل شوی څانګې.............................................................
۳۹- شکل: د central leader لپاره شاخبري کول ( اول او دوهم کال)....................................
۴۰- شکل: د central leader لپاره شاخبري کول (دریم او څلورم کال).................................
۴۱- شکل: غلط او درست heading میتودونه...........................................................................
۴۲- شکل: د اول کال په دوران کې د ضعیف او قوي ونو شاخبري کول.........................................
۴۳- شکل: ضعیفه نیالګی شاخبري کول...................................................................................
۴۴- شکل: د canopy د خلاص شکل لپاره شاخبري کول...........................................................
۴۵- شکل: Slim arbor branch system...................................................................
۴۶- شکل: د slim arbor branch shape لپاره شاخبري کول.................................................
۴۷- شکل: parameters of slim branch system...................................................
۴۸- شکل: Haag hedge shape.....................................................................................
۴۹- شکل: Palmetta hedge shape...............................................................................
۵۰- شکل: Bouche-Thomas Hedge shape......................................................
۵۱- شکل: Lepage Hedge shape.................................................................................
۵۲- شکل: Spur.........................................................................................................
۵۳- شکل: د شاخبري کولو معاوضوي میتود..............................................................................
۵۴- شکل: د یوې نودې د شاخبري کولومیتود..............................................................................
۵۵- شکل: د پخې ونې د بخار او په ځمکه د هغې د سورې د فیصدي تر منځ مقابله.......................
۵۶- شکل: د میوو د ونو لپاره د surface irrigation میتود.......................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰. ماخذونه

**F. Gyuro: Fruit production**. University of Horticulture, Budapest, Hungary (1980)

**Dr. Cselotei-Dr. Nyujto-Csaki: Horticulture**, Mezogazdasagi Kiado, Budapest, Hungary (1985)

**Growing fruit trees**. Forestry Commission, Harare, Zimbabwe

**MacMillen: Avocado**. Technical Centre for Agricultural and Rural Cooperation (1995)

**J.N. Moll-R. Wood: An efficient method for producing rooted avocado**. Citrus and Subtropical Research Institute, Bulletin 99, Nelspruit, South Africa (1980)

**B.O. Bergh: Avocado breeding in California**. South African Avocado Growers Association Yearbook 10

**A. Chandra-A. Chandra-I.C. Gupta: Arid fruit research**. Scientific Publishers, Jodhpur, India (1994)

**H. Kamprath: Proposal for a fruit tree orchard**. GTZ DED, Blantayre, Malawi (2003)

**Sowing of tree seed into pots**. Department of Forestry, Lilongwe, Malawi (1999)

**Care of young seedlings**. Department of Forestry, Lilongwe, Malawi (1999)

**Planning a new nursery**. Department of Forestry, Lilongwe, Malawi (1999)

**Seedling growth in pots**. Department of Forestry, Lilongwe, Malawi (1999)

**L.P. Stoltz-J. Strang: Reproducing fruit trees by graftage: Budding and Grafting**. University of Kentucky-College of Agriculture (2004)

**C. Ingels-P. M. Geisel-C. L. Unruh: Training and pruning fruit trees.** University of California, USA (2002)

**Brickell, C.-D. Joyce: Pruning and training**, New York, USA (1996)

**Harris: Integrated management of landscape trees, shrubs, and vines**, New York, USA (1999.)

**R. N. Arteca: Plant Growth Substances,** Pennsylvania State University, USA (1996)

**D. B. Vieira: As Tecnicas de Irrigacao**, Sao Paulo, Brasil, (1989)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**